دغني او اجمل د زوکړې د کالیزو
پد مناسبت علمي ادبي سیمینار

# دخوشحال فرهنګ

لیکوال

معاون سرمحقق محمد نعیم سالارزی

۱۳٦۷

PROPERTY OF ARIC Established 1989
PROPERTY OF ARIC Established 1989

45

دغزا و اسمل د زوکړې
دکالیزو په مناسبت علمي ادبي سیمینار

# دخوشحال فرهنگ

## دخوشحال په آثارو کې اصطلاحات محاورې او متلونه

لیکوال

معاون سرمحقق محمد نعیم سالارزی

خپرونکی

دقومونو او قبایلو وزارت

دنشراتو او فرهنگي امورو ریاست

PROPERTY OF ACKU

PROPERTY OF ARIC Established 1989

۱۳۶۵

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00007246 1

# څو خبري

ژبه د انساني ټولني یوه اجتماعي پدیده ده چي علمي تعریف یې داسي (( ژبه د ژغیزو سمبولونو یو داسي اکتسابي ټولنیز سیستم دي چي د یوي ټولني د غړو له خوا د مفاهمي د پاره په کارول کیږي )) (۱) کوي .

د ژبي اساسي پانګه د هماغي ژبي لغتونه دي چي اصطلاحات ، محاوري او متلونه یې لا پسي ښه خوند ورزیاتوي خو چي شاعران یې په خپلو اشعاروکي وپیي نو ادبي سینګار یې نور هم ډیریږي . څه وخت چي یوه ژبه د علم او ادب له خوا بډایه شوه نو ادبي او علمي ګټور تیایي د خېل او لس څه چي د ګردو انسانانو په کار راځي .

دا چي د پښتو ژبي شاعرانو ژبني او ادبي مالګه ( اصطلاحات او متلونه ) په خپلو اشعاروکي ځاي کړي دي نو پښتو ادب یې لا ښه پسي رنګین کړي دي . د دغه په ښکلا کي ننګیالي او توریالي خوشال خټک داسي لویه ونډه اخیستي ده چي د پښتو هیڅ یو شاعر و رسره سیالي نه شي کولاي او زما همدا رساله په عمدي څیړني پوري تړلې ده .

مخکي لدې چي د خوشال د اثارو د فرهنګ ( قاموس ) ژبني مواد وړاندي کړو نو د ژبنیو اصطلاحاتو په باب به یوه لنډه غونډي کتنه وکړو او بیا د متلونو په برخه کي هم لنډ کي خبري وکړو .

پښتو قاموس لیکنه کي د ژبنیو اصطلاحاتو په هکله داسي راغلي دي : (( فرازیالوژي د ژبپوهني یوه اصطلاح ده چي هم د ژبنیو اصطلاحاتو په معنا او هم د ژبنیو اصطلاحاتو د علم په معنی استعمالیږي . په دي برخه کي کله چي د فرازیالوژي کلمه استعمالیږي مقصد مو علم دي او که چیري مقصد مو ژبني واحدونه وي

---

(۱) پوهاند محمد رحیم الهام ، روشی جدید در تحقیق دستور زبان دري، (۱۲) مخ .

هلته بیا ژبنی اصطلاحات وایـــو )) ( ٢ )

د همدغه قاموس مؤلف په بل ځای کی لیکی : (( د غربی اروپا او امریکا پـــه ژبپوهنه کی د فرازیالوژي د تیوري په برخه کی تراوسه پوري کوم خاص اثر نه دی لیکل شوي سره له دی چی د دوی په قاموسونو کی ژبنی اصطلاحات ډیر راغونډ شوي دي )) ( ٣ )

پښتو قاموس لیکـــنه کی د ژبنیو اصطلاحاتو په باره کی داسی راغلی دي :

(( په دي ورستیو کلونو کی په شوروي ژبپوهنه کی ډیر اثار خپاره شوي چی د ژبنیـــو اصطلاحاتو بیل بیل ارخونه په کی څیړل کیږي خو سره له دي هم د ژبنیو اصطلاحاتو ځینـــی مسایل لا تراوسه تتی او لاینحله پاتی دي . د ژبنیو اصطلاحاتو دویش ( کلاسیفیکشن ) او په قاموس کی د هغو د ثبتولو په برخه کی بیلی بیلی نظریی لیدل کیږي )) ( ٤ )

د پښتو قاموس لیکـــنی مؤلف د ژبنیو اصطلاحاتو د معنوي جوړښت په برخه کـــی وا یی : (( د فرازیالوژي په تیوریکه سیړنه کی د اکاډیمیک و . و وینگرادف څیړنو مهـــم رول لوبولی دي .

ژبنی اصطلاحات د معنوي جوړښت له پلوه په دریو گروپونو ویشل کیږي :

١) لومړي گروپ کی هغه ژبنی اصطلاحات داخلیږي چی معنی یی د ترکیب د اجزاوو ـــ د معناوو څخه لاس ته نه راځی او اصطلاحی معنی د ترکیب د اجزاوو پرمعنی متکی نه دي ( لکه د پښتو ژبی دغه ژبنی اصطلاحات ـ په سترگو ننوتل ، پر سپین داغ غاړونل ... )

٢) په دوهم گروپ کی هغه ژبنی اصطلاحات راځی چی اصطلاحی معنی یی په تحلیلی ډول د ترکیب د تولوفروډ معناوو سره ارتباط لري ( لکه د پښتو ژبی دغه ژبنی اصطلاحات : پښه پر پښه اړول ، بانه پر بانو ایښودل ، او زه کښل ، د بل گریوانه سره لویدل ... )) ( ٥ )

---

( ٢ ) معاون سرمحقق دوکتور عبدالحکیم هلالی ، پښتوقاموس لیکنه ، د پښتوټولنی چاپ ، ١٣٥٢ هـ شرکال چاپ ( ١٠٧ ) مخ .

( ٣ ) پښـــتو قاموس لیکنه ( ١٠٨ ) مـــخ .

( ٤ ) پښتو قاموس لیکنه ( ١٠٨ ) مخ

( ٥ ) پښتو قاموس لیکنه ( ١١٢ ) مخ .

د دغه قاموس موءلف په دي برخه کی اوزده مفصله او جامع څیړنه کړيخو په لنډ ډول بیاداسې لیکی : (( سره له دي چی د ژبنیو اصطلاحاتو ویشنه پرخاصو ګروپونو نسبـــتـــه لري او تر ډیره حده پوري د ژپوهانو په ذهنی قضاوت او مغوبر نسپیونو پوري اړه لري‌چی ژپوهان یې پیروي کوي ۰

سره له دي تولو اختلافاتو بیا هم په شوروي ژپوهنه کی د ژبنیو اصطلاحاتوتشخیص او ویش‌په برخه کی داکاډیمیك وینګرادف نظر د تائید وړ ګڼل کیږي ۰ ځکه چی دده ویش له یوي خوا واقعیت ته نږدي دي اوله بلی خوادي د خاصو ژبنیو واحدونود واقعی ویشنـی په برخه کی زیات امکانات برابروي ۰ د نورو ژپوهانو په ویش‌کی اکثراً ژبنی اصطلاحات او عادي ترکیبونه یا ژبنی اصطلاحات متلونه او مقولی سره ګډیږي او پوره توپیر پــــــــــــــــــــه نه سره کیږي ))

همدا موضوع پوره او براخه څیړنه غواړي خو په دغه لنډه یادونه کی دومره ویلای‌شم چی دانګلیسی ایدیم (              ) او ژبنی اصطلاحات به یو شی وي خو سره له دي نوره څیړنه په‌کی پکار ده ۰

زموږ خبره خو په دي ده چی خوشال په اثارو کی څومره ژبنی اصطلاحات را غلــی دي ؟

څرنګه چی خوشال دتوري او سیاست په ډګر کی څومره قهرماني کړي‌ده دي نو له هغو زیات دعلم او ادب په جوړي اتل‌دي چی دپښتواد ب تله یې په خپلو اثارو ښه درنــــه کړي ده ۰

څومره چی یې علمی او ادبی اثار زیات دي په هماغه اندازه یې په تولواثــــــارو ( خصوصاً منظومو اثارو ) کی تر تولو هغو پښتو شاعرانو چی دیوانونه لري ۰ ده ژبنی اصطلاحات ډیر ځاي کړي دي ۰ نو دخوشال خان ژبنی مواد ډوه ارزښته لري ـــ یــو دا چی ژبنی اصطلاحات یې په شعر کی راوړي اوبله دا چی داصطلاحاتو مثالونه مـــوږ

په شعرکې هم وړاندې کولای شو .

د خوشحال په شعر ژبنو شمنی کي سربېره بر پښتو ژبه ( دري ) اصطلاحات هم په پښتو شعرکي بیان کړي دي نو ما خنه هم را یستلو دي .

دغه اصطلاحات او محاوري په دوو برخو کي ترتیب شوي ـ لومړي برخه پښتو اصطلاحات او محاوري دي چې دا بې د شمیر په لحاظ زیاته ده . او بله برخه یې د دري ده چې لږه ده .

د خوشحال په اثاروکي بله برخه د متلونو ده چې . . اوس هم تر نورو پښتو شاعرانو ده په اثاروکي د روند او کمیت په لحاظ بوره زیات دي .

د دغه ادبي صناعت په ځای کولو کي خوشحال ختک خپله ستادي او مهارت په ښه توګه څرګند کړي دي .

مخکي له دې چې د دغه صنعت شعري مجموعه او مثالو: یې وړاندې کړو نو دا به بې ځایه ادبی ګټه هم نه وي چې د متذغه صناعت په باب څو لنډې خبري وکړو :

متل خو په خپله خوند ره فولکلوري شتمنی او د شفاهي ادب خو ره برخه ده خو چې په شعرکی راوړل شی نو خوند یو نور هم زیاتیږي . په هغو شعرکو چې متل راغلی وي یوه ته یې ارسال المثل او بل ته یې ( مدعاومثل ) وایی .

الف ـ ارسال المثـل :

چې شاعر یو مشهور متل په ځیل شعرکی د خپلی مدعا د اثبات د پاره راوړي دغه ته ارسال المثل وایي لکه :

| | |
|---|---|
| په خوله قهر په زړه مهر زویت، بو یه | څه ښه وایي چیرته لږ بحلته اد ـ |
| اسان کړېږی ژړا د ... اه خاتـــه دي | لندو ختو دارو لزي او ... دي |

ب ـ مـدعا ومثـل :

چې یو مصرکی مدعا او په بله کی خارجي مثال راوړل شوی وي لکه :

د خواجه نصیحت ځکه اثر نه کا | په یوه رنځور د بل نه شي علاج
نصیحت په غافلانو اثر نه کا | د سړي او سپنې خوشې تکول دي

دا وه لنډکې یادونه چې د ( ارسال المثل ) او ( مدعا ومثل ) په باب وشوه خو اصلي خبره په دې کې ده چې د پښتو ژبې ته دغه صناعت یا په بل عبارت ادبي صناعتونه څه وخت او څرنګه راغلو دي چې په دغه هکله پوره معلومات راسره په لاس کې نه شته ځکه چې دغه موضوع نه ده څېړل شوې خواستاد پوهاند عبدالشکور رشاد د بدیع صناعت په بحث کې داسې لیکي : (( په دریمه هجري پېړۍ کې ( ۲۷٤ هـ ق ) د معتز بالله ( د یارلسم عباسي خلیفه زوی ) ابوالعباس عبدالله دا علم راویست ٠

څرنګه چې په عربي کې له ځانه څخه نوي راویستلو ته ( بدع ، بداعت ) وایي نو ځکه یې پر دغه علم باندې د بدیع ( نوی راایستل ) نوم کښېښود ٠

ابو العباس فقط اوولس ډوله بدیعي صنایع راغونډ کړل ٠ قدامه ابن جعفر په نقد الشعر کې شل رازه بدایع وموندل چې په هغه کې اوولس ډوله یخوامندل شوي وو او د یارلسو نورو په هغو کې زیات کړل چې د ټولو بدیعي صناعیو شمیر د یرشو ته ورسید ٠ ابو هلال عسکري دا شمیر اوه دیرشو ته ورساوه ٠

ابن رشیق قیرواني په خپل کتاب ( العمده) کې څه نور هم پر زیات کړل ٠ شرف الدین تقاشي او یا ته ورساوه او شیخ ذکي الدین بن ابي الاصبع شل صنعته پرزیات کړل ٠ د شیخ ذکي الدین کتاب ( التحریر ) په دغه باب تر ټولو اصلح کتاب دی ځکه چې ده په دغه باب نقل او ایضاح نه دی کړي بلکې پخوانیو کتابونو ته یې د نقد په سترګه کتلي دي ٠ ذکي الدین وایي : ما دا کتاب په هغه وخت کې تصنیف کړ چې څلویښت کتابه مې په دغه فن کې لوستي وو )) ( ٦ )

دا ادبي صناعتونو شمیر په ځای ونه درید اونورو پوهانو هم په دې برخه کې څېړنې وکړې لکه ( صفي الدین حلي ، عزیزالدین موصلي ، ابن حجه حموي ، امین الدین ــ

---

( ٦ ) **پوهاند عبدالشکور رشاد ، د ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې درسي متن ٠**

علی سلیمانی ) ۰ پەنتیجەکی دادبی صناعتونو شمیر بی ( ۱۵۰ ) ته ورسارد ( ۷ )

هر څو مره چی زموږ هیواد ته داسلام مقدس دین ورانڈگی رارسیدلی نو په مغاصه اندازه بی علمی اوادبی تاء ثیرات زموږ ژبی ته راتلل چی ددغو ادبی صناعتونو راتگ هم ورسره ترلی و ځکه چی دتولو هیوادو په ژبوکی دا ښحنه روانده اوپښتو ژبی هم ومنله ۰

دا خبره پوره معلومه نه ده چی په پښتوژبه‌کی کله ، چا او څه وخت دغه صناعتونه را پیل کړي شول ۰ ځکه چی د پښتو بداي او لرغونی ادبیات دوخت څپو او نامساعدو شرایطو په خپله مخه اخیستی چی څه یی موندل شوي او څه یی لادرکه دي څوورو ورو له دي لرو راایستل کیږي ۰ دهمدي خبري ښه مثال پټه خزانه ده چی د هجري لسمی پیړي رانیولی اند شاه حسین هوتك تروخته د پښتنو شاعرانو پوره پیژند نه او دځینو ورکو اثارو ( لرغونی پښتانه ) تاریخ سوري ) بوره اوموثقه یادونه کړي چی خاص‌ادبی او تاریخی ارزښت لري ۰ همدا شان یی دامیر کروړ سوري ارزښتناکه ویاړنه ضبط کړي چی دپښتو ژبی تول ادبي او تاریخی اثارومدار پر همدغه شعر پوري ترلي دي ۰ به پټه خزانه‌کی هغه شاعران راغلی دي چی دوي به هرومرو دیوانونه درلودل خو ځینی بی زموږ لاس‌ته لا تراوسه نه دي راغلی او ځینی بی دوخت څپو اخیستی اوپه لرو کی ورك دي ۰

هغه دیوانونه‌چی راسره شته نوپه هغوکی د ادب ستر اتل خوشال خان ختك کلیات اونور منظوم اثار دي ۰

د خوشال به منظوم‌اثاروکی د نورو تولو شاعرانو په‌رتله ددغه ادبی صناعت ( ارسال المثل اومدعا مثل ) نمونی زیاتی دي نو په همدغه اساس‌ویلاي شو چی دپښتو دیوانونو به همدغه صناعت او یانور صناعتونه راوړي وي ۰

---

( ۷ ) جلال الدین همایی ، صناعات ادبی ، دایران‌چاپ ، ( ۱۶۰، ۱۷ ) مخونه

6 a1

## لومړي برخــه

---

۱ــ ارت زړه : سخاوت ، خلاصمټ ، مهرباني پیرزوینه

له هر چا سره خندا په ارت زړه کــا         خو په ما باندي زړه تنګ کا هغه یار
ارتکی د زړه دلیل دجنتـــی ده         ددوزخ داور لایق دي‌دلتنـګان

۲ــ ارخ لګیدل : ارامه کیدل ، مطمئن کیدل ، بی غمه کیدل ۰

دفراق په شپه سورکټ په ماسوراور شو         یوزمان راباندي نه لګی ارخونه

۳ــ اوبـه : نرم ، حلیم ۰

کلـه اور کلـه اوبـه شی         کله توره کلـه سـپر

٤ــ اور لګول : جنجال او فساد پیښول ، په جنجال خته کــول ۰

چا داور د رلګـــول خوشـاله         چی لاله غوندي داهسی دل سوخته شوي

٥ــ بابا مړي : پلار مړي ، بنیرا ده یعنی پلار دي (بی) مړ شه ۰

توري سترګی ستادي بیا په تورو رنجو کړي         دوه توري بلادي‌پیري‌مې وژنی بابامړي

٦ــ بازار جوړیدل : اهمیت او ارزښت پیدا کول ۰

هغه ځاي‌چی‌مې دزلفو بازار جوړ شی         دماتیوزیست روزګار کله په کار دي

---

اوبه تو ییدل : سك سوك ختل ۰

هم دده دخولی نه ، داخبري وشـوي         ته به وایی پەهرچاتوبی اوبه شوي

(سوات نامه ٥٥ مخ)

دا خبره په ځای ده چې خوشال د توري او علم قهرمان دی ځکه د ده اثار همدا
خبره سپینوي او خپله قهرماني یې په ژبنیو اصطلاحاتو محاورو او متلونو راوړلوکی په ښه
توگه ښودلی ده . نو داده لومړی برخه یې ژبنیو اصطلاحاتو محاورو او بله یې د متلونو برخه
ده چې په ادبي اوژبني مینه علمی اوادبي ډگرکی د نورو څیړونکو د څیړنی دپاره وړاندې
کیږي .

۷ــ بازارخوریدل : اهمیت کمیدل ، ارزښت کمیدل ، بې ارزښته کمیدل ۰

د دې نورو بازارونو خوریدل شـــــته یو بازار د محبت دې وران به نه شي

۸ــ بازار ماتول : اهمیت او ارزښت ورکمول ۰

په سرو شونډو دې بازار د شکر مات کړ تورو زلفو دې ناموس د عنبر مات کړ

۹ــ بخت راوړل : بخت ویښیدل ، نصیب ویښیدل ، ورځ سمیدل ، قسمت ویښیدل

بخت بیداریدل ، بخت ملګري کیدل ۰

زور لرې که عقل په داد وارو مه نازیــږه بخت راوړه خو شاله چې دې کار لکه سره زرشي

۱۰ــ بخت ګرځیدل : ورځ ګرځیدل ، بخت ګرځیدل ۰

بخت چې کوږ شي یوه تن نه دې راوړي چې د خدای باندې پیرزو د هرچا دي

۱۱ــ بدري خوړل : ضرر لیدل ، بده ورپیښیدل ، زیان لیدل ۰

په خیال خیال یې تر یوې بدري ومه خوره د منډیل شملې یې پېښي سو رختګی

۱۲ــ بدزړه : خپګان ، زړه بداوي ، خپګان ۰

څه مانې په وخت یې تل هسې ځواب و ګوره بیایې څه زړه بد دې له مـــا

۱۳ــ بدساعت : بده ورځ ، تکلیم ، غم ۰۰۰

ځان به خلاص نه کا د بد ساعت له شره نجومي یې که خبر دې له علو مـــو

۱٤ــ بدوړل : بدراتلل ، بد ګیل ، کرکه کول ، له یوه شي یا له یوچا څخه بد راتلل ۰

څو فتنې او خرخشې د دې په ملك کې کمې دا دي هم څه نور څه شته بد مه وړه

عاشق سره تل جو رهم ښه نــه دي کله کله څه خو مهــر کــړه بد مـــه وړه

که هزار ځله فتنې او خرخشــې کړي زما چرته څه ستاله وره بد مه وړه

---

ب ــ او ربوري کیدل : بې اتفاقي او جنجال پیدا کیدل ۰

که په دا طور او ربوري په درست سوات شي مګر هاله د ما سیله مکافات شي ( سوات نامه )

بو سه د سینې خولې راکړه بدمور مستحق یم　　د حسن له نصابه دې څوتو که زیاتیږي
په رښتیاویل بــــد مــــه وړه　　خو شال ستا دې تــــه د ځان یــې

١٥ــ بد ه بخره : بد ه طالع ، بد نصیب ، شو می طالع ، خراپ قسمت ، بد ه برخه .

چې بې زړه ترکانې سخت څخمې یار دي　　بدي بخرې څه زما ، کاڼې په کو ر شــه

١٦ــ بد ه ژبــه : بد ه خوله ، بو چه خو له .

حب د د نیا څه دې سر د کل وارو بد یــو　　بد ه ژبه بیل کا تا له خیلوله یرد یــــو

١٧ــ بد ه لار : غلطه لاره ، بد ه لاره .

هم د او ښ غو ندي هلك سره په لار ځم　　چې په بد ه لار مې بیایــې علته نه یم

١٨ــ بد ه ورځ : سخته ورځ ، سخته ، تکلیف ، ورځ ګرځیدل .

ز ر یه بد ه ورځ یــــه کــــا ر وي　　هو ښیار ځکــه ســــاتي ز ر
چې ورځ د ې بد ه شي د ولت پیرو کا　　خیل زو یه وروڼه له تا و یزار و ي

١٩ــ بر لاس : غالــب .

لاس همیش برلره یه وارو غلیمانــــو　　د و ه مې غلیمان د ي یو ې نفس بل مې خناس
تل د ې لاس به غلیم براو سه خو شالــه　　غلیمان د ي شرمند ه تر تا ځاریـــــږي

٢٠ــ بر ند ي سترګــی :

محتسب چې احتساب لره ورځي مجال یې نه شته　　که د برند وسترګو مستې همیشه کاند ې وراني

٢١ــ بلا اخیستل : تکلیف ته د ریدل ، یه درد خو ړل .

خد ای زو ز ه یه عیش بلاوتاته یرې نه زدم　　چیري څوکښه جهان کې د یوبل اخلې بلا

٢٢ــ بې زړه : بې جراء ته ، بزد ل ، کم زړي ، کم جرائته .

ګید ړ بې زړه د ي هم وسواس لــــــري　　موږي زړور د ې کله هراس لـــــري
برژن ، حریص ، بې زړه چې د رو غوایې　　د یاري لایق نه د ي دا ځلـــو ر

۲۲- پټې سترګې : بې خبره ، بې تپوسه ، بې شکله ، بې چون و چرا ، په‌اسانۍ سره

څوک چې سترګې غړوي‌تر څو واړو    ما په پټوسترګو ګوښې ننداره وکړي

۲۳- پوخ ځیګر : پوخ زړه ، ترې په عذاب شوی ،

دا داغونه چې ښي په ځیګر دي    خو هم زمانه ده چې مې پوخ ځنې ځګر دي

۲۴- بوزه برې کېدل : شرمیدل ، بې عزته‌کیدل ، دا اصطلاح زیاته د ښځو

د باره راځي ،

هیڅ ماسره یاري نه کړه تر سره    واړه بوزبرې کړې بوخکي دي

۲۵- په خبرو یې ځغستل : د هل چا په خوله تلل ، تېل په خبره یو کارکول -

خلك نا دیده دي په‌خبرو یې ځغلي    دار تر عارفانو چې په حال دې پوهیدلي

۲٦- په خپل زړه : بخپله اراده ، په خپله خوښه ،

دا هسې ولي د زړه یې    ورمه یې، په هیڅا نه یې خو په خپل زړه یې

۲۷- په څلور کې یاد : ښکاره ، بیژندل شوی ، مشهور ، هغه څوك چې

خلك یې په ښه نامه پیژني ،

په هرځای چې د رندانو مجالس وي    ترقیامته به یادیږي په څلورکې

۲۸- په خم ختل : نقش‌شوي ، تصویر شوي ، ترسیم شوي ، (۱)

دا په خم ختلي غوا که هر څو لویشي    سیم وزر به بې حاصل نه‌کړي له لو یغه

۲۹- په خواره سترګه کتل : په سپکه سترګه‌کتل ، په سپکه کتل ، سپك ګڼل ،

سپك کتل ،

چې مې هسې شان په خوارو سترګو ګوري    ما دا ناسازي نه‌دي چاته سپړلي

---

(۱) دا معنی یې پوهاند عبدالشکور رشاد وکړه او په نورځایوکې یې معنی نظر

ته رانه غله ،

۳۰- په خوله اخستل : یادول ، نوم یادول ، په خوله راوړل ۰

بیا څیره په سرگرځه کیږده څو شاله    چې څوباد ي په خوله نوم واخست

ستاد زلفو نوم په نور په خوله وانه خلم    د هوښیار یاروه، تورمارسره کارنه وي

۳۱- په خوله خوږ : خوږ ژبی ، شیرین زبانه ، هغه ( څوك ) چې پوازي په خوله نرم او پوست غږیږي ۰

حال د پیواره وار په وار راته معلوم د ي    ته یاره په زړه تریخه په خوله خوږه

۳۲- په خوله راوړل : په خوله اخستل ، ویل ، یادول ۰

څو به د ي تل وي دا اوریږ باوړي    چې د ي په زړه وي په خوله یې راوړي

۳۳- په خوله کول : د بل چا خبره منل ، د بل چا په مشوره او خوښه یو کار کول ۰

نصیحت د نیکو ښه د ي نه د بـــــد و    کم بختان به بدفعلی د چا په خوله کا

۳٤- په خیال تګ : په ناز تلل ، په ناز تګ ، د لویی تګ ، به کبر تلل ۰

چې له ښکاره په خیال راتلم وکوږ رته    مو ر به تل زما فتراك وه واوره تیر شه

۳۵- په زړه داغ : د ك زړه پاتی کیدنه ، ارمانی ، ارمانجن پاتی کیــــدنه.

ښه تاریخ یې راغی یې بد له محظمه    خوشال د د ه نیکه د ي، د نیکیی داغ په زړه شه

۳٦- په دماغ تــلل : په غرور تلل ، په ناز تلل ، به تکبر تلل ۰

دوارې پښی ګلګونی سرې په دماغ د رومی    ګوره بیا څومره وګړي پایمال ستاد ي

۳۷- په زړه روغ : بی غمه ، هغه چې غم نه لــري ۰

رنګ د هغو ورك شه چې اوته وایــی د روغ    نه شته څوك په ملك کی چې له د ه وي به زړه روغ

۳۸- به زړه سنګ : سخت زړی ، په زړه کلك ۰

د ښایست کمی یې نه شــــــــــته    ولی یار می به زړه ســــنګ د ي

په زړه سنګه شوخه شنګــــــــــه    جفا څو یه به زړه ازاره

ACKU

۳۹ ـ به زړه سوړ : بې علاقې شوی .

داز مینت گوره په ماچې زوړ شوم    له نورو چارو په زړه کې سوړ شوم

۴۰ ـ په زړه شین : په زړه غمجن ، به زړه خپه .

زړه مې په هیچا نه شو په عالم کې    له عالمه سره زیست کړم به زړه شین

۴۱ ـ به زړه کې بد نیول : بدگڼل ، په کږه نیول ، به بد وگڼل .

که ښه وایم وچاته هم مې بد نیسی په زړه کې    یابخت دې د مخلو یا زماځه عقل کم دی

۴۲ ـ په زړه کېدل : حافظې ته راتلل ، به یاد راتلل ، تیره شوې موضوع ...
را یادیدل .

دروغجن به دې بیالري کاد زړه نه    که هرڅوبه رښتیا پورې په زړه شی
ته خو اوس له مانه لاړې مرور شوی    دا زما یاري هم گوندې په زړه شی

۴۳ ـ په زړه گرځیدل : په زړه کې ساتل ، په زړه کې په یاد راتلل .

چې په زړه مې گرزیدې هغه خبري    کوږ په کور به هر دیار خوري عالم کړي
هغه کار چې ترسره ورسیږي بخت    چې په زړه گرځي به ویښه په منام

۴۴ ـ به زړه لرل : په یاد لرل ، په حافظه کې ساتل ، به زړه یاد ساتل .

له چا به ځه مانه به زړه لرم    خوز یم د خبلو ترکو په غشی
یه بوسه مې د لبانو سرفراز کړه    همیشه په زړه لرم د شربت څکه

---

به زړه کول : په خوښه کول ، به خپله خوښه یاد بل په خوښه کول ، رایادول ،
راته واړه تله راتله کا    واړه کار د ما به زړه کا ( فراقنامه ۵۵ مخ )
د دنیا ویل دې نه کا    د حق ذکر دې به زړه کا ( فضل نامه ۷۴ مخ )
په زړه کې ځای نیول : به زړه کې کور کول .
که مې ځای وکړ به زړه کې    خوز دې زړه کاندې خبیث ( فراقنامه)

۴۵ — په ژبه اخستل : پهخوله اخستل ، نوم يې يادول ، ويل ، په خوله راوړل ٠

کله نوم په ژبه نه اخلـــي تيچــــري
په تش نوم به د يې هم سود کړم د لبـــري

نه به دې عمر گړ په ژبه واخلي په عمــــر
دا ياري دو ستي چې ستا خوشال ته شوبينه

بيا هم د منکو نوم په ژبه واخلــــــي
چې خوشال لره يې بوي راغی د شــنيـــو

چې مې نوم په ژبه واخلي بس خوښ شم
لکه غز د خلاصي و شي په بنـد يـــانــو

چې د ې نوم د خوار خوشال په ژبه واخيست
په د رست عمر کې خونن ورباند ې عيد شـــه

۴۶ — په زيره خندل : سپکول ، بې عزته کول ، شرمول ، نارينه شرمول ٠

د ميره په زيره نه خاند ې نو ر څــه کــا
چې د بل سره خبري کاخسـو ري ٠

۴۷ — په سر خوړل : تجربه کول ، ورته تجربه کيدل ، يو تکليف برې راتلل نو بيا برخپلی تيروتنی پوهيـدل ٠

که گاوز په جنگ باتو ر د ې جنگ يې تـير وي
چې په سر وخوري خبيره د ضيغـــام

۴۸ — په سرلگيدل : هميشه له زيان اوکړاو سره مخامخ کيدل ٠

په هر لوري مې غورځوي په ســـر لگـيـږم
زمانی کړم لکه سنگ د منجنيـــق

۴۹ — په سينه لاسونه مږل : افسوس او ارمان کول ٠

بيا سينه په د وا ړه لاسه مــــــــږم
لکه باز د هونبايې ووزي له جـــاله

۵۰ — په بنه نيول : په نيك پال نيول ، په نياك شاگوم نيـــو ل ٠

که بو ير بد راسره کړي په بنه يې نيسـم
خپلی مينی راته ستا ترخی حلوا کړي

بنه خو بنـــه د ې که يـــــار بد کا
م يې ونيسه پـــه بنـــــــه

۵۱ — په غتـو سترگو خو ب : په غتو سترگو ، په غتو ، به رنو سترگو ، په خلاصو سترگو ( ويد يد نه )

عاشق يولکه ليوه په شــــــمال بايـی
بل په غتـوسترگو خوب کالکه سو يـــــه

۵۲ — په لاس کښیوتل : گیرېدل لاس ته راتلل ، مالك کېدل ، خاوند کېدل .

دمنکو انبارونه په لاس کښیوزي همګي به صدقه کړم ستا ترخاکــــــه

۵۳ — په مخ خوړل : جزاء لیدل .

چې نادانۍ په مخ وخوري‌هاله یوه شي ګنه هو نمره په خبره نه پوهېـــــزي

۵٤ — بېره له شونډو څڅېدل : تی خور ، هغه ماشوم چې تی روي کم سنه ، په عمر خام ، دکچه عمـــــر .

لا دي پي له دواړو شونډو څڅـیزي به څواب دي ژبې بندي کړېد هو ښیارو

۵۵ — ترڅایه ورتلل : ځاي نیول ، د هغه په بول کېدل .

چې په دارېي ابدست کړو په خپلو وینو کوم سړي به د منصور ترڅایه ورشـی

۵٦ — ترخــه : سپورې ، سپورې‌خبرې ، سپورې ستغې ، ترخې خبرې .

همګي په مثال شهد یا شکـــــــروو چې به تاراته ترخه‌ترخه ناســـازوي

دا همه واړه زما د بخت اثر دي ګنه تا کله ترخه ویلي چا تـــــــه

۵۷ — ترزړه کول : په یاد راوړل ، په فکر کې ګرځول ، به ذهن کې راګرځول ، را یادول .

چې جدا شوې یاران ترزړه کــــړم لیمه په ډیرو ژړلو ســـــــره کـــــړم

---

په غاړه : ورسپارل شوی ، پرې بار ، پرې تحمیل شوی ...

را په غاړه د مغـل منصـب پـــــه زوړ ته به وایې چې منصب نمو سور او رو

(سواتنامه ۱۱ مخ)

په لاس کښیوتـــل :

چې به لاس د کافـر کښیو ځـــــــــی مومن غم ورباندې پریـــــــو ځـــی

( فضل نامه ۱۳۵ مخ )

درست صورت مې سري لمبې شي شنې لوږي    چې د خیال مین د مینې راز تر زړه کړم

٥٨ ــ تر سره‌کول : سر ته رسول ۰

چې یې عشق تر سره کړي    نو ر څوك نه شته څو بتنګ دي

٥٩ ــ تر شاکول : هیرول ، بې اهمیته کول ۰

که یو‌ځل شیګره وینې لـه چا    په یوه بې شل بد ی کړه تر شا

عاشقي به څه کاندې چې تر شا کا    زیست روزګار ، شرم پیغور رویه ننګونه

٦٠ ــ تش‌لاس : بې وسلې والی ، مفلسي ، غریبي خواري ۰

تشه لاسه ته یې د ښمن یې ( متل )

که مې لاس‌لګه د ریاب له د رو تش وي    ولې سترګې مې د ریاب غوندې وې اسرې

٦١ ــ تندر پریوتل : تکه بریوتل ، مصیبت او افت راتلل ۰

تندر د رقیب په کور پر بوځې قهقهه خانده    سینه ائینه د ششت خیل یار ته جلوه

٦٢ ــ تنګ زړه : بیزار ، به تنګ ، سخت ۰

له‌هرچا سره خندا په ارت زړه کا    خو په ما باندې زړه تنګ هغه یار

ما به څه یو ښتي چې څه لره زړه تنګ یې    ستا د تنګې خولې به کې تنګ دل یم

٦٣ ــ توبه ماتول : د توبې ایستلو د باسه څاغه کار کول ۰

عشق راغلی د توبې به ماتول دي    هیڅ بد ي راباندې مه وایه نادانه

مګر زه فسق او فجور لره بیدایم    چې بیا بیا یې ماتوم که توبې سل کړم

٦٤ ــ تود بازار : ګرم بازار ، اهمیت لرنه ، ارزښت لرنه ۰

د معشوقې نوم عاشق په جهان خور کا    د شیرینې بازار تود له پرویزه

د هر چا بازار زما به سودا تود دی    خبر دار په سود د بحر غم د غره یم

نشته په دا ښهر څوك چې نمو ي خریدار ستا    څه رنګه به یر تود دې چې مې وایه بازار ستا

ACKU

٦٥ — تور بخت : خراب بخت ، خراب نصيب ، بد نصيب ٠

خداي به ما باندي نادان كړ بخت مو توردي كوينسته چوي‌په دېره هوښياري كـي

٦٦ — تور زړگی : له كينی ډك زړه ٠

مور زادي كانه هرگز نه هو ښيا ريـزي نصيحت به تور زړگی كلتاء ثير كـړ

٦٧ — تور زړه : تور زړگی ٠

پښـتنو سره زړه تـور دي د ٠٠٠ خبر دا ری په نيتونو يك په يك يـم

٦٨ — تور مخ : رسوا ، بدنام ، خړ ، شرمنده ، شرميدلی ٠

چی به وو تسپـی په لاس كـــــی مخ بی تور زيري يـی كلـــــی

٦٩ — توري پريباسـل : وژل ، قيامت جوړول ٠

ستاد مخ سپاهيان هم توري پريباسـی ولی د وه سترگی دي لاديجنگيالـــی

٧٠ — توري وعل : ملاتړ كول ، ديوه چا ننگه كول ، توره كـول ٠

وركول توري وعل دا دواړه بويـــــه چی‌پری چار د شرد اري شی انصرام

كه تري دي كه بولاق رحمت پري باندي په سيالی توري‌وعلی واړه تـــام

---

الف تور مخ : شرميدلی ، خړ شـوي :

په دنيا به بی مخ تــــور وي په قيامت به بی ځاي اور وي ( فضل نامه ١٢ مخ )

چی په نام و ننگ اړ نــــــه وي كه تل ژوي مخ بی تور ( فراقنامه ١٧ مخ )

د بدبخت مخ بهتور وي واړه تن به بی تور سكوروي ( فضل نامه ١٤ مخ )

ب — توره ترل :

دا هم شكر چی می وترلــــــه توره د ما تورة په جهان كی شوه مشهوره ( سوات‌نامه ٥ م )

ج — توري وعـل :

د ٠٠٠ دياره ماتوري وعلــــــــی پښتنوراته كړي‌به ير ښكنځلی ( سوات نامه ١٠ مخ )

۷۱ — تیره اختیار : زرورتیا ، په چا سترگه نه سوځید نه ، اختیار تیرید نه .

تمی سست و ینی په سترگو — دخوشال اختیار تیره دی

۷۲ — تېر سړول : زړه سړول ، ارمان ایستل ، زړه یخول

تېر سړیدل ، ارمان وتل ، زړه یخیدل ، زړه سړیدل .

په هر بادیسی پریشان پریشان جاروزم — که به بوی دزلفو می تېر سو ړ شی

بی د تیغ له ابه نورمی اوبه نه شته — چی جنگجوی سره ساړه کا تېرونه

۷۳ — تېر وهل : نمه وهل ، ژړل ، له خپگانه سینه وهل ، خپگان اوتاء ثر ښکاره کول .

هم دیووژلم په خپله هم بیا گوره — بیا په ماهاندې تېر وهی ماتم کړي

۷۴ — تېر یخول : ارمان ایستل ، زړه یخول .

که طالع ورسره مل شی ځان ځرگندکا — بیا به هاله تېر یخ کا دپسی ر

۷۵ — ځان جوړول : ځان چمتو کول ، اماده کیدل ، تیاریدل ، سینگارکول .

هغه ترکه چی ځان جوړ کا را ښکاره شی — ترجمال یې حوري هم نه دی جمیلی

سر تر پایه جامی وافو ندی گلگونی — ځان چی هسی جوړوي خود به بو میزي

۷۶ — ځان ژړل : خپله چاره او غم خوړل ، دخپل ځان په فکر کیدل .

د ژوند پیوند ترلی به یوه اومسپینسی دی — دجهان غمونه پریږده نور بمخوژاړی ځان ژاړه

۷۷ — حدیث راکښل : حدیث څکول ، دتوبسی په ډول دپوزي خطا یستل یا خط راکښل (۱)

که می لمتانه نوره یاري وکړه — راته گوره راځکوم حدیث په بیزه

۷۸ — خاطر سړول : زړه سړول ، ارمان ایستل .

که یې چیري دخپل یار په وصال لاس شی — بیچاره خوشال به هم خاطر بری سوړ کا .

---

(۱) د حدیث راکښل معنی کی یوځه غور هم په کار دی .

۷۹ـ خاطر مړول : زړه مړيدل ، زړه توريدل .

ماخوشال له خپله ځانه خاطر مړو كړ    چې دا هسې دغمزې په تيغ حرج كړي

۸۰ ـ خاطر مړيدل : زړه توريدل .

چې يې ستا په كوي ځان ونيو نو مړ شو    دخوشال خاطر له باغه له بهاره

۸۱ـ خاطر نيول : زړه ځمرول ، زړه نيول .

كه هرڅو يې له زيبا مخه خاطر نيسم    زړه مې بيا په اضطراب لكه سيماب شي

۸۲ ـ خاطر وركول : زړه وركول .

په رضا يې خپل خاطر وركړ خپل يار ته    په خوشال محصل نه وه د چا تين

۸۳ ـ خاطر وړل : زړه وړل .

يك تنها يې دخوشحال يو نه وړ    په جمال يې زړونه يووړه د بسيارو

توري سترگې يې تور باز بانه يې نوكې    چې زما خاطر يې يووړ په نوكارو

۸۴ ـ خالي لاس : مفلس، تش لاس  ناميده .

خالي لاس ورځني ځم هيله مې نه وه    چې يو ك زړه به يې له يكه باغه تلل كړم

۸۵ـ خاورې په خوله كول : په خوله خاورې منبل ، دغريبۍ او مفلسۍ ناريومل ،
ځان مفلس ښوول  مړه كيدل .

چې بيگا يې كې په شهدو په شكر دي    په سباد هغو خولو خاورې په خوله

۸۶ـ خاورې په سر كيدل : بربادېدل ، تباه كيدل  زيان ورسيدل  په ښيراوو
سره يې وركيده او برباديده غوښتل .

خاورې يې په سر شه ځكه عمر يې تير شو    هرچې نن دكنبليو په ديدار نه وي

۸۷ـ خداى دې (يې) واخله : مړ شې ، مړ دې شي ، ورك دې شي .

چې يې تل غوا وغيلو ته سوري دي    خداى دې واخله دبې درد و مجالسه (۱)

خداى په خپله په ښه مخ باندې مين دي    خداى يې واخله چې له كنبليو به پرهيز شي

(۱) دنكلو بلسه ښه ده .

ACKU

۸۸— خواره برخه : خوار قسمت ، بد نصیب ، خراپ نصیب ، خراب قسمت .

په دوران د عالمگیر باد شاه خوشــــال    خانه زادی واړه بخري لري خواري

۸۹ — خـواسړول : خوا یخول ، خوا یخي کول ، ارمان ایستل .

تا چې دا نا سازې چارې دې راکـړې    لا دې خوا را سړه نه ده بابا مړې

۹۰— خوا سړیدل : خوا یخیدل ، خوا یخي کیدل .

که همه عمر د باد گلـو نـــه گـــورم    زما خوا به پرې سړه نه شي ننـوزه

۹۱ — خوا یخول : ارمان ایستل ، بښه جزا ورکول ، خواسړول ، خوایخي کول

زه په مرگ راضي یم رقیبان به خوا رایخ کا    مخ د رقیب تور شه ، گوره ته د یار رضا ته

۹۲— خوږین زړه : شین زړه ، ذړې ذړې ، جگر خون . بیزار ، ویزار ، زړه چاودی .

له نیکانو خـشینه ، لمبدانو په زړه خوږینه    لمور والی بی توبه کاکیږي مور ویډ روغجنه

۹۳ — خوږ خاطـر : خوږ زړه .

که د خوږ خاطر له حاله چاته گیله کړم    یا اخو نه یاږړا یا به عذاب کښم

۹۴ — خوږ زړه : غمجن ، دردیدلی زړه ، دردمن زړه ، په زړه زخمي ، زخمي زړه

که په زړه زخم لري دارو طلـب کــړه    د خوشال ویل د خوږ زړو مرهم دي

او د خوږ زړه دي چې دغریبونو پل شو    شنې د دوو زې خیږي له نښتره له چناره

په نصیب د روغو زړونو فراغـــت دي    په قسمت د خوږو زړونو الـمنگـــــونه

۹۵ — خوږه ژبــه : نرمه ژبه ، ښې خبرې ، خوږې خبرې ، خوږه لهجه ، ښه وینا

خوږه نـرې ده خوږه ژبـــــــه    چې خوله خبرې کړي زمـا صاحبــه

هنر هم دادي که دا هنــر لــــري    چار به دې تل وي ترسیال غالـــبه

۹۶—خوله اخستل : مچکه اخستل ، مچواخستل ، مچاخستل ، کوگۍ اخستل .

لا سړی مه پریږده ملا سه خوله بی واخلـه    پریوتلی په یاغو باچا تلـنگ دي

ACKU

۹۷ ــ خوله غوښتل : مچه غوښتل ، مچو غوښتل ، مچکه غوښتل ، کوګی غوښتل ۰

چې دې خوله غوښته وتاته مې د رکـــــړه  دا چې بیا له ما ماښې کړې ولې ولــې

۹۸ ــ خوله لنډول : خوله ور بنــــدول ۰

بادشاه د خولې سودا کړمه کرورونو یې بها کړه  خوله یې لنډه د هرچا کړه ګردا په شاجهان شی

۹۹ ــ خوله نیول : خبرې بس کول ، خوله بندول ، خبرې بندول ، په ځینې خبره دفعتاً خولــــه بندول ۰

له خبرو خوله ونیسی خاموش شـــــی  نوم به زرکښې زدې د غوبل ســــتور

مرګ یو تریخ جـــــام دی د رته نیولی  خو به ترې خوله نیسی دا جام به ګوټ کړي

۱۰۰ ــ خوله ورکول : مچکه ورکول ، مچو ورکول ، خولګی ورکول ، د خولې مچــــه ورکول ، د شونډو مچکه ورکـــول ۰

هجر مې وژلو ته تیار دی که خوله راکړې  هجر به هلاک شی زه به خلاص شم ستا ثواب وي

تا په خپله سپینه خوله خوشال له ورکړه  ګهه دې دا هسې شونډې ښکلول څـــوك

وې مې که زه ورشم ستا تر ځایه خوله به راکړې  وې یې سکه هزار سره لرې چې دا وینا کړې

۱۰۱ ــ خوله وازه پاتې کیدل : حیرانیدل ، حك پك تــلل ۰

چې د ښکلیو ننداره کــــــــړم  ورته پاتې شـــم خولـــــه وازه

۱۰۲ ــ خون په غاړه کیدل : خون اخستل ، د یوچا د وژلو ذمه وار کیدل ۰

چې خون به غاړه کیږي له دې کار مځه خوږم دې  یاران زما په ګورکی زه په ګورکی یم ستم دې

۱۰۳ ــ خونی سترګی : وږونکی سترګی ، بنایسته سترګی ، سری سترګی ۰

دا خونی سترګی چې ته لرې دلـــــبرې  په کشتن به خلق کاندې په بـــــرې

---

الف ــ خوږخاطر:

که د خوږ خاطر له حاله چاته ښکل کړم  یا اهونه یا ژړا یا په عذاب کښم ( فراقنامه ۲مخ )

۱۰٤ــ خیر زړه : یوه کارته زړه کیدل ۰

بیا می کینه سترګه لاندې باندې راپــــې　　　مګر بیا می زړه یارې وته خیــر دې

۱۰۵ــ دخولی لباس : ظاهرداري ، په خولی او خبرو سره غولونه یایستی خبري کول ۰

تش دخولی لباس مباس سره کیـــــږي　　　دهرچاخاطرخیل سود و ته پرکیږي

۱۰٦ــ دزړه په وینو : په ځګرخونی ، په ځګرخونی ، په ډیرزحمت سره ، په ډیـــر
تکلیف سره ، دزړه په زور ۰

هرغزل می بیا ځی باندې وګـــــوره　　　زه خوشال ختك دزړه په وینو کښل کـرم

۱۰۷ــ دزړه خبره : دزړه راز ، پټــه خبره رښتیا خبره ، هغه خبره چـــې
په زړه کې وي او چاته یې په صداقت سره ښکاره کړي ۰

که چاته وکړي دزړه خـــــــبره　　　تا کیدیري وکړي چی وبی نفـــره

۱۰۸ــ دزړه خوز : همدردي ، خواخوږي ، زړه سوي ۰

روغ به خوب دبی غمی کا خوشالـــــه　　　چی څه خوز دزړه لري خوب د هغه څـی

۱۰۹ــ دزړه دمه : زړه ته نږدې ، ګران ، زړه ته تیر ، دزړه ارام ۰

دزړه نوي نه یاران وو خدای جدا کړه　　　دخوشال دزړه دمه به هغه نو وه

۱۱۰ــ دزړه زور : وس ، توان ، قدرت ، شوق ، ذوق ، هوس ۰

چی خانی ته دې هوس دزړه به زورکـړ　　　لا ځایی وه ستا دزړه اندیښنــه جار

۱۱۱ ــ دزړه سر : ډیرګران ، ډیرخوږ ، زړه ته نــږدې ۰

زه دشاجهان بادشاه دننه دزړه سروم　　　چارمی او رنګ زیب په نادانی کړه برهمه

نه زما دزړه لربردې ښایســـــته　　　همیشه می دزړه سردې ښایستــــــه

---

دزړه ســر : هغه ملك چی دزړه سردې　　　همیشه می پري نظـــر دې

( فراقنامه ٤۰ مخ )

۱۱۳ — دماغ : لویي ، تکبر ، غرور .

ته چې د ادماغ لري — څوك به څه فراغ لري

چې دې هومره پېر د دماغ و ته وګورم — بل دې سیال په جهان نه شته بې بادشاه

۱۱٤ — دماغ اخستل : دماغ کول ، تکبر کول ، لویي کول .

چې د خپل قوت څښتن شي د ماغ واخلي — د ځوانۍ له خیاله سم نه ځي په لاره

۱۱۵ — دماغ کول : تکبر کول ، لویي کول .

نن دې د ور د خوبیه دې دماغ کړه — یاد یار په زړه مرهم زده یا یې داغ کړه

۱۱٦ — دماغي : متکبر ، کبرجن ، مغرور .

زه له ځایه د دماغي په جهان راغلم — ما د اهسې د دماغ اوس نه دې راوړي

۱۱۷ — دم وهل : ځان خوځول ، ځان خلاصول ، ځان ښوروول .

هومره رسوایي ، دم وهل د پارسایي — راشه که یې ګورې چې د اځه د غادغل شي

څوك چې دم د همد عیوهي تري سوړ شوم — چې زمن ولیده د خلکو حسد مې

دم به نه وهي په دم وهل کې زیان دی — ننداره د جهان کاچې ذکي دي

د صفا په لار بې نه ږدي قدم — همیشه له درویشۍ وهي دم

هیڅ دم مه وهه خوشاله — چې نبات د رته ګنده هیر شول

خوی د یښن راسره نور دی — دم واهه نه شي له ویري

څه شوکه لا دم وهي په شمار دې د ژوند یو — رنځ چې لاد وا شي طمع پرې کړه له بیماره

څه کړم کوم فکر علاج کړم — دم واهه نه شي له ډاره

رد وي ، که مقبول دی ، که معقول دی — ګوره ننداره کړه ترد ادم مه وهه زیات

چې چا دم وهلی نه شوو څنګه ته — راشه ګوره چې د چا باندې غورځی دی

که دې له خویه چا ته فریاد کړم — یا هیڅ دم نه وهم صبر بنیاد کړم

دم واهه نه شي چې خدای کړي — څوك فرعون کړي څوك موسی کړي

ACKU

که وفا کاندې جفا کا یاره، دم شه وځه اغیار ته

۱۱۸ – ډېر زړه: ارمانجن، هغه ارزوګانې او امیدونه چې په زړه کې پاتې شي.

دریغه سره تش کړې داډېر زړونه د فراق     تول کړي په تله د جازیات شو اشتیاق

اورنګ زیب بادشاه زړه ډېر په لاهور راغی     ګوره ګانده به دجا د ورګردان شي

۱۱۹ – ډکه خوا: قهرنیولی، په زړه کې قهر.

څه داغونه زدي په زړه پاندې فلکه     چې نظام د عدله مایل کړ خواپې ډکه

څومره دې خوا ته وماته ډکه     چې تشویش په ما فلکه

۱۲۰ – ډکه خوله: په غټه خوله، په ښکاره، واضح، په څرګندو الفاظو.

چې په ډکه خوله دې ووې یارې نه کړم     د بلا په خوله دې ور کړم زړه خراب

۱۲۱ – ډوډې غپ: پردې ډوډې ته ناست، هغه چې د نورو ډوډې ته ناست وي

دمیدان څوسی پویو تازې نیسی     ډوډې غپ په کلی د یرګرځی انعام

۱۲۲ – راوړل: زېږول، زوول، زوکول.

ته یې احسن دګل غوندې پیدا یې     بورې مور، که ښاپیرۍ یې راوړې

---

دم وهل: زرناسازې زر فساده     دم وهه له عدله دا ده (فراقنامه ۶۷ مخ)

په دا څومره قباحت     دم وهه له شریعته (فراقنامه ۶۷ مخ)

په دا څومره رسوایی     دم وهه له پارسایی (فراقنامه ۶۹ مخ)

ملنګان یې واره ویستل له سواته     دم یې وواهه له کشف و کراماته

(سواتنامه ۶۵ مخ)

PROPERTY OF ACKU 7246

۱۲۳ — روزي‌ګیدل : نصیب کیدل .

زه یوازي نه یم د یر عالم پس کباب دي — او د یپسی کیږي . . .

دعارف په بخره علم لـد و نی د ي — په الست بی روزي شوي بی تحصیله

۱۲٤ — روغ زرونـه : بخـلا ، دوسـت .

خلـقی سره یاري کا پـــــه د روغ — و به نه وینی د وه زرونه سره روغ کا

۱۲٥ — روغ زره : بی‌غمه ، بی غمی .

په نصیب د روغو زړونو فراغـــت د ي — دا چی زاري نه د ه پـه روغ

۲) خوشـال

د چا زړه به محنی روغ په دنیا نه وي — د خوشال خټك چی چاو د محنی خاطر دي

۱۲٦ — روغ عالم : ټول خلك ، خلك .

روغ عالم بی غمه خوب کا خبر نه دي — چی په عذاب تیریږي په درد من شپه

۱۲۷ — زره بایلول : زړه بایلل ، مینیدل .

هو چی تمی ولیدي په تابی زړه بایلنه کړ — زه وایم سري نه دي مخه به هم د واب وي

---

روزي کیدل : دا لوبی بی روزي مه شه — د هزار بلا سبب شـــول

( فراقنامه ۱۹ مخ )

که روزي خداي فـوز نه کـــــا — خداي به دا سعـــادتمند کـــا

( طبـنامـــه )

ډکه خـور : د ( بی زړه ) په معنی راته ښکاري خو سره له دي هم نورغور هم په کې پکار دي .

په زلمی چی شـــوم زور شـــــی — له حه اره ډکـــه خور شـــی

( طبـنامـه ۱۵ مخ )

۱۲۸ — زړه بدول : خپه کیدل له چا موړیدل ، خوا بدې کیدل .

په هیڅ کله زړه نه کیږي ، کله زړه په هیڅ بیابد کړي

په کام ناکام دې واړه باد دي پیمایم

که زړه د یار ساتی د یار په راءې د رومه

خپل زړه حی بد نه کړې مل زړه به روغ نه کړي

بی عیبه یار نشته په ملاک هوښیاره

په عیب مه کړه زړه بد له یاره

نه سرې پرده په نیکی خپل کا

کومه شاغلتیاده جی خواک بد کا زړه د یار خپل

۱۲۹ — زړه یخیدل : په تنګ راتلل زړه یخیدل ، خوشالیدل .

تا وژلی هم له خپله لاسه ښخ کړه که دې زړه باندې په خیزي زړه پرې یخ کړه

۱۳۰ — زړه پرې کول : علاقه قطع کول ، رابطه قطع کول .

راشه زړه له غیوو پرې کړه ای خوشاله په امید بې د دیدار له زړه ښاد

زړه له واړو خلکو پرې کړه ایمان دا دې که پوهیزي

۱۳۱ — زړه تړل : مینه او علاقه لرل پریوچا تکیه کول ، پر یو چا اعتماد او باور کول .

| | |
|---|---|
| په خپل زویه ورور پی زړه نه دې تړلی | د خپل پلار ومرګ ته هم صزي ورغوي |
| راشه زړه ورپ وري مه تړه ناد انه | کښي ګوري دا فانی دنیا دنی ده |
| ور بی واچول دزلفو زنځیرونه | که هرګز اموخته نه وه په تړل زړه |
| چی بی تا پوري زړه نه وې تړلی | په عفو پوری زړه څه لره تړي |

---

زړه بدول : په اشنایی بی صبور کړه مه زړه بد تر ید وری کړه ( طب نامه )

روښ مخ : سرخرویه ، سرلوړی ، او چتی سترګی .

په دنیا به پی مخ روښ وی ونیکا نو تمه حول وی ( فضل نامه ۹۰ مخ )

په قیامت به پی مخ روښ وی ترمحتابه لاجون وی ( فضل نامه ۹۱ مخ )

زړه تړل په دنیا مه کړه — بود یې نه شته د اسیا
مال اولاد د واړه فتنه دي په جهان کې — پند واوړو به زړه نه تړې هوښیار
واړه فاني د دنیا چارې — په ځای تل نه وي سره قراره
چې زړه یې وتاړه باندې یک لخته — د عفو سرپودي بخرې خوارې
که په مالدار زړه نه دي تړلی — په داځه که کوټه کوټه سره پریوزي

۱۳۲ — زړه تلل : مینیدل ، عاشقیدل ، عاشق کیدل ۰

که په عشق کې زړه د نوروپه لیده ځي — زما زړه په اوریده ترلیده ځي

۱۳۳ — زړه تنګي: خلق تنګي ، هغه څوک چې ژرترژر یوه کارته زړه تنګوي ۰

زه لا اوس په زړه تنګي نوي عاشق یم — په خندا خندا بورجل لره راد رومه

۱۳٤ — زړه تنګیدل : زړه تنګیدل ، حوصله تنګیدل ۰

د زاهد په صومعه کې زړه تنګ شو — لهدې پسه به خدمت د مې فروش کړم

۱۳٥ — زړه ټینګول : مقاومت کول ۰

ته خو اوس د زهد لاف کوه زاهده — که یې ووینې زړه ټینګ کړې مرد حاله یې

۱۳٦ — زړه جمع کول : مطمئن کیدل ، خاطرجمع کول لاس تري مینځل

په دنیا کې مې همیشه لره زړه جمع — پریشانی د ځنې اوس کناره

۱۳۷— زړه چاودل : زاره چاودل ، زهره چاودل ، مړه کیدل رخه کیدل ۰
پر یوه کار خپه کیدل ۰

ستا له غمه مې ځګر له وینو ډک شو — چا ته ویلی نه شم زړه مې چوي
که یې تل په ظلم زړه وي کړمې زړه له غمه چوي — خدای دې ننګاد ابه نموي چې یې خوږ کړي په ګفتن کې

---

زړه زنګی لري کیدل : ارمان وتل ، زړه یخیدل ۰

واړه لري د زړه زنګ شي — ورځې چې که په تفنګ شي ( فراقنامه ۱۵ مخ )

۱۳۸—زړه خوږيدل : زړه سوځيدل ، خپه کيدل ، متاثره کيدل ، متاثريدل .

هوحی ستا د زړه رضا واړه هغه کړه      خو چې زړه د چا خوږيږي هغه مه کړه

۱۳۹ — زړه ساتل : مراعات کول ، يو څوک خوښ او راضي ساتل .

که زړه د يار ساتې د يار په رضا دي د رومه      خپل زړه چې بد نه کړيږي بل زړه به رو غ نه کړي

۱۴۰— زړه سر : زړه ته نږدې ، ګران ، خوږ .

نه زما د زړه لربرد ي شايسته      هميشه مې د زړه سر دې شايسته

۱۴۱ — زړه سرول : ارمان ايستل ، خوا يخول .

چې هومره قهر د ګوتو مرور کړې      په دا پروهيږم زړه به راسو ړ کړې

ما فراق د حبيبانو ژړ وي      زړه په ما د رقيبانو سړوي

۱۴۲ — زړه سړيدل : بې پروا کيدل ، زړه توريدل خوا يخيدل ، ارمان وتل .

جګې جګې ناهې مه کړه پخلاشه      چې په ما د رقيبانو زړه سړيږي

ستا په تورس مال تالا ما نهی نړيږي      راشه ګوره که په دا هي زړه سړيږي

نصبه زړه زما سړيږي نه به بس کړم      ورځ و شپه که سلامونه په احباب کښېنم

۱۴۳— زړه سوی : خواخوږي ، همدردي ، زړه سوځيدنه ، زړه خوږي ، ترحم .

که څوک زړه سوی په ما کاندي زړه سوی دي      که مې لاس ونيزه به ولی ړ اګ سراه

چې زړه سوي په پلار په زويه ناندي نه کا      د هغه به څه صرفه وي په جهان

پريږده چې ومري زړه سوی پرينه بسويه      که په فاقه ليل و نهار دي

که قضا په ما زړه سوی کا هم به و مرم      کميو څو ورځې د عهد نګ و فتنې داوي

هغه هو ، هغه د ما غرا پاتې نه شو      که زړه سوي را باندې کړي ځای د زړه سوی دي

که يې او به ورې که يې لمبې سوځي      زړه سوي په ما ولړم په د د مه کړه

۱۴۴ —زړه سيځل : زړه سوځول ، زړه سول ، زړه سوی کول ، ترحم کول .

که په ما باندې څوک زړه سيزي نشاينه      که په حال مې رحم کاندې ځای لرينه

ACKU

۱۴۵ — زړه شول (کېدل) : يوه شي يا يوه کار ته نيت لرل ، يو شي ته شوق کېدل .

که يې زړه نه دی په خپلې رسوايۍ          راځي من دی په فساد نه شي سړی

که دې زړه دی چې بد نه وي له ځانه          اول ته پرېږده د بد و خصلتونه

چې د خپلې کامرانۍ په کار راشي          که عالم ته و بالا شي پرې يې زړه دی

که دې زړه دی چې مېنه دې ښکاره شي          راشه و نيسه ومخ ته ائينه

۱۴۶ — زړه (نه) ښوريدل : نه وارخطاکېدل .

هغه چې پاکي دې شرم حيالري          زړه يې فساد ته په لکونه ښوري

۱۴۷ — زړه ښه کول : يوه کارته نيت او اراده کول ، خوشالول ، پر يوه شي په خپله ځان خوشالول بل څوک خوشالول .

مه مار شه مه لړم شه          چې په مرګ دې څوک زړه ښه کا

زړه په چا ښه مه کړه که دې زويه که دې پوروڼه          ملعد تنګسي نشته هيڅوک، واړه ځان ځاني ده

چې دې زړه پرې ښه کا هوښيار به نه وي          حس نيسي يې په شتابي ده

که دا محه از دې تحقيق په بدل وي          سکه زړه به ښه کړو هرګوره ښه يو

خوشاله يو نشته چې زړه پرې ښه کړي          نن ورځ که زويه نمسي شپيته لري

که دې يو زمان زړه ښه کا          بيا دې زر کا په ژړا

۱۴۸ — زړه ښه کېدل : خوشالېدل . خوا يخېدل .

زړه مې لا يو ښه شو چې ته مې يار شوې          زه دې بلبل شوم ته مې ګلزار شوې

چې په خپلو زړه ښه نه شو          ښه به نه شي په پرديو

---

زړه وي : نيت وي ، خوښه يې وي ، اراده يې وي .

يو هغه چې په نام نه وي          و دنياو ته يې زړه وي (فراقنامه ۴۰ مخ)

ده چې خوشي ميدان بيا موند سخن ګوي شو          په ويلو يې چې زړه وو ، هسې توي شو
(سوات نامه ۶۳ مخ)

که مې وژنې بل ګناه په ما ثابت کړه        چې را شه د رقیب زړه نه شي یکباره
چې زړه له تانه د جا شه کیږي        شه کړه دعا ګټه ، دعا قبلیږي
د خوشال سلام په وارو شه یارانو        ګوندې بیامې په لید و سره زړه شه شي
کوم یو باد دی چې په درست جهان راوالوت        زړه په چا شه نه شي لباس شه خلك واره
تل په ورځ ورځ ژاړي لا یې زړه په ما شه کیږي        لا په ورځ ورځ ژاړه چې یې لاش خوښي زیاتي

۱٤۹ — زړه کیدل : نیت لرل ، یوه کار ته اراده لرل        یوه شي ته شوق لرل .

نه خو ښې شته نه خپلوي شته        په خپل سود د هرچا زړه شي

۱۵۰ — زړه لاندې باندې کیدل : زړه شکسته پورته کیدل ، تاثیر کول ، اثر کول ، تغیر پیکښې راتلل .

که زر خونونه کاندې زړه یې نه ش لاندې باندې

لا نور ورپسې غواړي خوشالیږي خو چې مرینه

۱۵۱ — زړه لتمول : خبري تري ایستل ، په خبرو راوستل ، راز پرې رابرسیره کول .

د خوشال په زړه کې یو دی        څوك یې څه زړه لتموي

۱۵۲ — زړه مړیدل : بې پروا کیدل ، زړه توریدل ، زړه صبریدل ، کفایت کول ، تسلي کیدل .

ستا غمونو له هرګله ژوندې وې        په دا الز مې زړه کله مړیږي
زړه یې څسې د هجران غمونو موړ کړ        د خوشال ترستونې نه د روې مړ ي

۱۵۳ — زړه نیول : زړه کلکول ، مقاومت کول ، کالل مخه نیول ، زړه صبرول .

لا یې یې صبر شکیب وکړ نه پاییږي        نور لمتنه جدا کیږي په نیول زړه
څو خپل زړه نیسم د زلفو له سودا نه        راشي بیا د روې د راز ې راته ښليزي

۱۵٤ — زړه نه خوځیدل : مقاومت ، ثبات

دعالم د یوې خبرې لور په لور توري لښکري        زړه مې نه خوځي له ځایه غرڅوغسې وکښه

۱۵۵— زړه نه کېدل : د یوه شي خوړلو ته اشتهانه کېدل ، یوه کار سره دلچسپي نه لرل ، زړه نه تلل .

چې قدم له تا نه اخلم زړه مې نه شي ‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌ پابسته یم د زلفینو په ریسمان ستا

۱۵۶— زړه ورکول : مینېدل ، عاشقېدل ، زړه بایلل ، یو مجاته د خپل زړه زیات اخلاص څرګندول ، اعتماد کول ، زړه ورنږدې کول .

چې خپل زړه و چاته ورکړي ‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌ هغه جاري په تا تل کا
ما چې زړه وتاته درکړ خلق را باندې خندا کا ‌‌‌‌‌‌‌‌‌ ولې هسې خبر نه وې چې ته څرنګه زیبا یې
اندېښنو ته زړه ورمه کړه ‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌ خوځیات یې په دنیا

۱۵۷— زړه وړل : جذابیت لرل ، د جلبولو استعداد لرل . ښکلي . مینېدل .

یک تنهایي خاطر یو نه وړ ‌‌‌‌‌‌‌‌ په جمال یې زړونه یوړه د بسیارو
چې مې زړه ورېښاوې پاسه په اسمان ده ‌‌‌‌‌‌‌‌ ولې ترګې په زمین راڅخه یووړ
د ما زړه یې په حلقه د زلفو یووړ ‌‌‌‌‌‌‌‌ لکه لوی ماهي په شست د ماهیګیر
هم مې زړه په غمزه وړي هم ځان نادان کا ‌‌‌‌‌‌‌‌ راته وایي وایه بیاد چې زړه په څه ولاړ
زړه مې یووړ خورد سالي ‌‌‌‌‌‌‌‌ ښایسته پیرۍ مه شالي
د زیبا جمال یې لا یرد یې زیب وزین ‌‌‌‌‌‌‌‌ ولې زړونه د عالم وړي په عینین
چې د ښهر زاهدان شیخان پیران دي ‌‌‌‌‌‌‌‌ زړه د هر یوه کښان وړي په زلفین

---

زړه نرمېدل : د زړه سختېدل مقابل ، له قهر او غصې راښکته کېدل .

سخت دلي د روې له دله ‌‌‌‌‌‌‌‌ زړه پرې نرم وي هرکله

( فضل نامه ۱۸۳ مخ )

نه یې زړه په دا نرمېږي نه ګروهېږي ‌‌‌‌‌‌‌‌ خدایه څه مې سر یکار شوله کافره .

( فراتنامه ۱۳ مخ )

زړه ورکول : چې زړه و چاته ورکا ‌‌‌‌‌‌‌‌ هغه څه په خواري خوار شي

۱۵۸ – زړه یخول : خوا یخی کول .

چی د اهسی وروحی غو ته کړي خبري بدخواهان به زړه رایخ کا شیوه گري

۲) ارمان ایستل .

۱۵۹ – زړه یخیدل : ارمان وتل خوایخیدل ، زړه یخیدل ، خوایخی کېدل .

زړه بی میره یم د نیا مې ژگـــــه د ه زړه می په هرڅه وربانديي یـخ د ي

۱٦۰ – ژبه اړیدل : ژبه بندیدل ، وارخطا گیدل .

د رښتیا خبري خیر و برکـــت دي په قاضی د د روغجن ژ به اړ یــــزي

۱٦۱ – ژبه ښه کول : په ژبه ښی خبري کول ، په خوله سمی اوښی خبري کول .

څوك چی خبله ژبه ښـــه کـــا نو ر یې هیڅ نه شته بـــد ي

۱٦۲ – ژوندي زړه : هغه چی زړه ته غم نه پریږدي ، هغه چی غم او تکلیف بري تاثیر نه کوي .

چی زړه د چا ژوندي وي هغه مینه کا پـــه ښـــکار

۱٦۳ – ساړه اهونه : ساړه اسویلی ، د زړه له درده اسویلی ایستنه

تل گونه وهلی هرزمان ساړه اهـــونه ماچی عاشقی کړه خود په مابه د اکیدل

---

زړه ورل : یایی زړه نه دي چاوړي یایی عمردي تیـــر کـــړي

ژبه سازیدل : خوړل ، خوله جوړیـــدل .

که بی بیاکړه د افسون شیوه اغــــازه سود یې نه ود ماژبه شوپری سازه ( سواتنامه ۵۵ مخ )

ژبه ژغورل : ژبـــه ساتل ، خبري نه کول .

مسلمان دي ژبــــه ژغــــوري چی غضب بري نه ووري ( فضل نامـــه)

١٦٤ــ سبق ورکول : جزاء ورکول ، غوږونه ورتاوول .

عشق خوشال وته یوهسې سبق ورکـــړ چې یې زړه د قال و قیل له درسه ستون شه

١٦٥ ــ سپوره خبره : ترخه خبره ،بده خبره ، پوچه خبره ، سخته خبره ، سپکه خبره .

چې معنی ورسره نه وي ویل سپور دي خدای دې نه کاندخوشال خبره سپوره

١٦٦ــ سپین زړه : صداقـــت .

تندر هم زماله ذاته نه پیـــدا دي په سپین زړه که باران سپینی او به یـــم

١٦٧ــ سینه وتل : سپینې شوییدل ، وارخطاکیدل ، سپینې تبنتیدل ، واټې تبنتیدل .

ای چې خبرې کړې خوږې شرینــــــی ولې د یووتې په عمل کې سینــــــی

١٦٨ــ سترګواب : حیا ، شـــرم .

د زاهد د سترګو اب چونمره په ځای دي چې یې سترګې باندې نه دي بزابرې

١٦٩ــ سترګوتور : ګران ، خوږ ، زړه ته تیر ، زړه ته نـــږدې .

ته ما د ســــــتر تو ریــــــــی په د اتور د سترګو ســــــتازو

هودا کار د ازمینت نه دي نوخوږ دي چې زما ملا زمان سترګو تور شـــه

١٧٠ــ سترګور : هوښیار ، تیز بین ، د هغه چاچې سترګې ښې وینی .

سترګور اد راور کړ وینې چې بریښــــــی نو یې میاشت په سترګو نه وینې سترګ تتې

---

سترګو تور : هغه ملک د سترګوتور دی چې په کې می سپین وتور دي ( فراقنامه ٤٠مخ )

سپین زړه : د د نیا خبرنه وه کار د دین و د ما زړه د مومنا نوسره سپین و( سواتنامه٥٦ مخ )

۱۷۱ — سترګې وزې: وزې سترګې ، وزې سترګې .

که په کورکې مال دولت لرې سترګې وزې        ملکان بې لاترنوروډ ېمرد ار

۱۷۲ — سترګې اخستل : مخ اړول ، سترګې ایسته کول ، مخ بل پلوته ګرځول ، بلې خواته کتل .

کهدغشو تیرباران رابانديږ وشي        که به سترګې له تاواخلم منافق یم

۲) نظراخستل ، لهسترګو کیدل ، له نظر کیدل .

۱۷۳ — سترګې خوږیدل : دیو چا په لیدلو خوشالیدل        ترنظره ښه او خوږ ورتلل        بریوه چاتسلي کیدل .

ستا په دیدار مې سترګې خوږیږي        زړه مې راووت دغم له درګه

ماچې کړېیه جهان کې رښا سترګې        بې له تامې خوږېږنه شې به چا سترګې

۱۷٤ — سترګه ربیدل : یوه فولکلوري اصطلاح ده چې ښې سترګه وربیږي نو په ښو ( نیک بال ) یې نیسي اوکه کینهسترګه وربیږي نو په بدو ( بد شاګون ) یې نیسي .

بیا مې کینه سترګه رپېږي        مګر بیا مې زړه ویاريته خبر دي

۱۷۵ — سترګې رڼول : سترګې روښانه کول ، سترګې بینا کول .

ماچې ستاپهجمال سترګې کړېرڼې        کښلې واړه ستادمخ دېر ښې

۱۷٦ — سترګې غړول : سترګې ښوروړ        سترګې خلاصول ، سترګې برانیستل کتل ، لیدل        او چت کتل .

وګفتار ته یې مخ غړوه سترګې        یهکرد یه عمل ګوره کس ناکس

ACKU

۱۷۷ـ سترگی غړیدل : په سترګو کې ګرځیدل ۰

چې لسترګو یې نه غړیږي غنم رنګـــــه جدایي لګه قحط دي دغلــــی

۱۷۸ـ سترګی کړول : بل خواته کتل ، سترګی اړول

وبل باغته به سترګی کړي نه کـــــړي چې زماد باغ بلبله یا طوطایـــی

۱۷۹ ـ سترګی نه اخستل : سترګی نه لرې کول ، مخ نه اړول ، بل لــو رې ته

ته سترګی نه اړول ۰

زه به سترګی ستاله مخه نه وانه خلـــم مخامخ که تیر انداز که یو څـــووي

۱۸۰ـ سترګی نه غړیدل : نه کتل رخه کول ، د یوچا په او منصب ۰۰۰

خیه کیدل په سترګو بد لګیدل ، له یامه بد راتلل ۰

وهغی نبینبو ته نه غړیږي سترګـــــی د ساقی څخه چې تشه شی له ملــــه

۱۸۱ـ سترګی وخوره : سترګی ورکی شه ، سترګی د یوړکی شی ، مخ یـی ورك شه ۰

کړد لیل د یډ واړه سترګی وخــــوري په تورتم د جنازي سره خملـــــــی

۱۸۲ـ سخت زړه : کلك زړه ، بې ترحمـــــــه ۰

طربناکه ، تل بې باکه ، ګریوان چاکه ، تشرتاپاکه

زړه یی سخت لکه اهن په مخ یوه ائینه یو غشــــــه

۱۸۳ ـ سر باسل : راغره وعل ، مقابله کول ، پنجه نرمول ۰

چو خلك سره سر باســــــی په همتکی څخه زه یـــــم

---

سترګــی غړول : د بازونو رنګ ته مه غړوه سترګـــــی

که تیغو ن د ي ، مګرنشته سپینی چرګـــی ( باز نامه)

۱۸٤ — سرخوزیدل : بدورل ، بدراتلل •

سرمې خوزشې لهکمینه ــــــــــه · مهکمین وې مې یې مینه ــــــــه

۱۸۵ — سرخورل : ۱) سره کیدل ، وژل کیدل ۲) له منځه تلل ، ورکیدل ، تول صنایع کیدل ، مرخه خورل •

سرې نه دې حـــق شـــــناس · سرد ېوخورې ناســـــپاس

چې دې لاف د سپینې خولې کا مخه سرخوري · بهدرباردې د سرونو انبــــاردې

۱۸٦ — سرغرول : نه منل ، سرکشي کول ، بریکړه او فیصله ماتول •

ســرد ې نه غــروې خوشالـــــــه · د بلا نه چې ســــــردار دې

۱٦۸ — سرکوزي : ملامت ، خړ ، سرښکـــته •

ودرویش وته سرکوزې بادشاه نه دې · دآسمان ورمیز لاهم دې ورته خــم

۱۸۸ — سرکول : اخته کیدل ، ورسره مخامخ کیدل اخته کــــول له سره توییدل •

زه خوشال دا هو چشمې مینې ســـرکـړم · دغرخه غوندې په هسې گــړنگو نه

گور بههم په ژړا سرکړم که یې ورورم · زه خوشال د زړه عومره المـــونــــــه

۱۸۹ — سرکیدل : اختهکیدل ، مخه کیدل وریسې کیدل ، مجبورول ، تلل ، ویــــــل •

د لیلې د پاره ســــــر شـــــو · خوار مجنون په گـــــدا یـــــــې

که همهخلقې یې سرشې په غندنـــــه · بیماره خوشال به خیل هنر خوشال دې

وایم څه وریسې سریم که یې مو مـــــم · په دوران کې موند ه نه شــــې خزینـــه

۱۹۰ — سرلهداګه وهل : سرله محکې محکې وهل ، فریادکول •

دښمنې لهواره سر وهې له پراکــــــــه · داشتې کار محال دې په دا مینځ کــــې

۱۹۱— سر وهل : ۱) ژړا کول ، فریاد کول ۲) شکایت کول ، سر تکول ۳) د تیري چاري ارمان کول ٠

خوزي شوندي به بي نه موبي وهه يي        سربه د واړه لاسه ، وايه و مګس ته

۱۹۲— سر هوا : مست اوبي پروا ، په خپل سر ٠

ستاد خوي د زلفو سره يو رنګ دي        سرهوا په خپل مطلب پسي دي تللي

سر هوا لکه تبجن عس ويزي        د خپل ځان سره خوله بته ځواب سوال

۱۹۳— سري سترګي : مست ، خمار ، بي پروا ، بي ويري ، په قهراوغضب ٠

سري سترګي اونشي لکه ډير خونونه کړي

خدا يه خيريت کړي چي راد رومي په دا شان

۱۹٤ — سو ر زړه : بي پروا ، زړه توري ٠

ته خو زور يزي لا مين کيږي        زړه به د ي کله تري مور يا سو ر شي

۱۹۵— سينه يخيدل : خوا يخيدل ، خوا يخي کيدل ٠

چي رقيب بي خوارو زار په نظر کنيسوت        د خو شال هم په د اشوه سينه يخه

۱٦۹— سينه سوي : سو خته دل ، سينه کباب ٠

عاشقان دي سينه سوي        له اند وه سره اخښلي

---

سينه سړول : سينه يخول ٠

بيا الحمد الله زده کړه        په اوبو سينه سره کړه

( فضل نامه ۱٦۷ مخ )

۱۹۷ــ سینه مزل : لاس مزل ، لاس مروړل ، انسوس کول ، ارمان کول ۰

بیاسینه ورسو به د واړه لاسه مــــــزم  لکه بازد خو نایږ ووهی له جالـــــه

۱۹۸ــ سینه وهل :۱) ضمانت کول ، سینه تیـبول ، ذمه وهل ۲) ژړا اوسینــه په لاسو وهـــــــــل ۰

دا څو ورځی غنیمت گڼه په باغ کـــــی  چی به تاباندی سینه وهی بلبلـــــی

۱۹۹ــ شابه شا : بی پروا ، به غیا بی ، مغرور ، خپــه ۰

نن به خپل بخت راسره درسته مخامخ کړه  چی پرون راته پاڅه ته شا په شــاوه

ته کل واره خو بی لر پواړه کامرانــــــی  بنادی په مخامخ غم واندوه تمشابه شایو

۲۰۰ــ شاکول : مخ اړول ، بی پرواکیدل ، بی اعتنا کیدل ، زړه توروول ،

چی وخپلی کامرانی ته مو شاکـــــــړه  غم اندوه د خلک ته لرم پروا هـــم

پیراستاد مرشد به واړه درته شا کـــــا  کمه چی ښامرکب کی مستقیم یـــــی

زه له خپله بخته چا وته فریاد کــــړم  چی پرون پی راته مخ و نن پی شا کړه

تل وا بی خوشاله چی دنیا وته به شاکړی  لاخودا دنیاده مخامخ ورته ولاړه

۲۰۱ــ شا کیدل : ترې بی پروا کیدل ، بوا همیته گــڼل ۰

بی احسان و تهی شــــــا شـــوه  مخ بی تور شه نه دی نـــــاس

---

شاکول : چی د پد رسته راته شا کـــړه  ظلـم وکړی پك لخـــــته( فراقنامه ۲٤مخ )

که مؤمن طاعت ته شا کـــــا  بهتقدیر ـــواله دا کـــا ( فضل نامه ۱۱ مخ )

شا کیدل : پهدا کار که یوسفزی په بی وفاشی  الودا ع ده ، چی دما په ورته شا شـــی

( سوات نامــــــه )

۲۰۲- شونډې بوڅول : لبه وهل .

وږغاند يوماته شونډې بوڅي به ناخوال کړي      دا فتنې نيولې دې بياله‌کومه ډېراوړي

۲۰۳- شين‌زړه : غضب‌زړه ، شين‌زړه ، زړه‌چاودی ، بغتنګ شوی .

تا جام دی د شرابو ستا به لاس توبه په شونډو

د خلکو لړمون شين دی که يو ميږی ستا له شينه

۲۰۴ - غاړه‌کېښودل : غاړه اېښودل ، غاړه اېښوول ، منل ، قبلول ، تسليمېدل .

چې يګه يې سيرکړه څلوېښت لاسه      نور به نښکارته غاړه کېږدې برابره

۲۰۵- غاړه‌غړې : غاړه‌په‌غاړه ، سره نږدې ، ډېرخوازه او نږدې دوستان

( ملګري ) .

د ماخوارسره چې تا غاړه‌غړې وه      اوس د لړ را باندې نه‌کاندې له غاړه

۲۰۶- غټې کتل : په درنه‌کتل ، په درناوې‌کتل ، په‌زېوسترګوکتل ، په‌غټوسترګوکتل .

له‌حجابه پورته غټې کتلی نه شي      نا‌موخته به کنځلو به پايزار دي

چې سترګې به رنځو کړي برند که‌ښيني خوږې زلفې

چې غټې به درته‌ګوري يو يو مرد بويه بللی

۲۰۷- غم‌خوړل : چاره‌کول ، علاج کول ، غمخوري‌کول ، چاره سنجول ، په‌تشويش‌کې خوړېدل .

تاوې چې غم مه‌کړه يوموږ به د يغم وخورم      څه لره به غم خورم چې مې تاغوند يغمخو رشته

---

شين زړه : بهوړکړيه به بنګښ باندې ... دي

له ديووارو اولسونو مي زړه‌شين دی ( سوات نامه ۱۹مخ )

نېې کېنې بېژندل : به ښه او بد پوهېدل .

چې نېې کېنې مې بېژندلې دې دا مينه      تاد ما په‌زړه‌کې ځای کړله قرينه ( بازنامه )

غاړه اداکول : غاړه خلاصول .

چې تندرست شي هيڅ دې بيا کسا      خپله غاړه دې اداکا . ( فضل‌نامه ۱۱۷مخ )

۲۰۸ - غم غلطیدل : پام بدلیدل ، مصروفیدل ، فکر اوند من امتناع شراو نګان نخه بلی خواته او بنتل .

په هرچی غم غلط شي واړه ذوق دي      که په نرد ، که په شطرنج وي که په ښکار

۲۰۹ - غوز باسل : غوز نیول ، خبره منل ، خبره قبلول .

مانند یی په له کتابه د پښتلی      غوز دي باسي خالد اخبري حقایق دي

چې د شعر و شاعري مذکور و شو      څه څوک غوز باسه زمانه حسب حال

زړونه یې زخمي کړه چو کوتی په مکتیبوي      غوز باسه له بمباومي په زیر راغلی دي

په هرځای چې د رڼښلور و بله ناسته وي      چې پري غوز باسم خبري د معرو کا

۲۱۰ - غوز کول : غوز نیول ، متوجه کیدل .

که راته غوز کړې یو نصیحت دي      نه د بد خواه یم نه حق پعت دي

که راغوز کړې نه دلسوزې د ه      نصرت قبول کړې فتح روزې د ه

ګوره څه وایي پري غوز کړه      چي اوازا جنګ و نسي

۲۱۱ - غوزونه څك كول : غوزونه بوخول ، خبرې ته نه متوجه كيدل اوغوزنيول .

ښبل غوزونه ورته څك كړه ګوندي واوري      راز د مينې د بلبلي له للوزه

- - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - -

غاړه خلاصیدل : له غاړي لري کول ، غاړه ادا کیدل .

بیا يې خلاصیږي د ده غاړه      کمد یې نه کاد اد واړه ( فضل نامه ۱۱۷ مخ )

غوړه وینا : نرمي خبري .

مګر خدای یې په سرسازه کړه خبیره      د کاند بد خولی نوحې وینا غوړه ( سواتنامه )

غاړه غړول : سرغړول ، تعان تري ناخوالهد یخوا کول ، نه منل .

واولاد تصو باتي شوه دا د واړه      تصرد ان وي تربه نه غړوي غاړ ( بازنامه )

غوز باسل : چې سلام وکا وتاته      راشه غوز باسه و ماته ( فضل نامه )

۲۱۲— گوز سـر : ملامت ، خوار ، خجـل ۰

و غمه تمی سر کوز د یچی معلوم ورته رمو ز د ي
په خبره نه یو هیزي خر خو حسی وي کـنه

۲۱۳— کږه پګړي : کبر ، لویي ، لویڼو ســی ۰

څورنګه څو نصمه د ا څاورو کی بد رنګ شول          څود خیال کږي پګړي یاد لري جهـان

۲۱٤— کږه نیول : به بد شاګو نیول ، به بد و نیو ل ۰

ګو ند ي سمه شي عالمــــــه          که کږه ي د ه نیـــو لـــي

۲۱۵ — کږي خبري :۱) بدي خبري، مسبوري ستغي ۲ ) نیښرور سرنه ، د کنایی په
لړ ول خبره ورتیرونه ۰

د حضوله څولی کږي خبري اورم          چي بهاورته کاته کول په کـرکــــه

۲۱٦— کو ر څو ر یـدل :کو ر ورانیدل ، د ر به د ره کیدل ، تمرونس کیدل ۰

او ر ي ولګي به څونه چي عاشق شو          کوري څور لکه د قیس او وا مق شـي

۲۱۷— ګو تي به غو ز مندل : حان کو نه اچول ، غو ز کـنیول ، غوزونه بتول او څه نه
او ریدل ۰

ګو تي ومند ه به غو ز کي تر تیریزه          د ا کر زر د کرونه کا زره به د م کـــي

- - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - -

غو ز کـنیول : حان ناګاره اچول ، حان نه یو هول ۰
ته به ننګ د ښتا نمرا غلی تر ســــواتـــه          غوز کانه کره ، د عالم به کم و زیاته ( سوات نامه)
ګو تي حیچل : حیرانیدل ، به حیرت کي تلل ، ګوتي به غاښ کول ۰
به حیرت بموار ه ګوتي وحیچلـــــــــــه          د (( اخون)) به خزن چاګوتي کنیښول ( سواتنامه)
ګو تي ختـــل : وزګاریدل ، بي کاره کیدل ، له کاره وزګاریدل ۰
به د رست کال يي ګوتي نه خیژي له کاره          بوتیمار د یدار بو به تالیزا ر ه
( سوات نامـــه )

۲۱۸- لار کول ، لاری کول :(۱) تلل ، او لار پیدا کول(۲) لاره خلاصول(۳) موندل ،
پیدا کول ، درک کول •

چی دلبری اره د روحی پـــسوه- لار وه مشتاقانو پسی یو یری لاری وکـــــری

۲۱۹- لاس اخستل : ویزاره یدل ، بیزاره کیدل ، تری تیریدل ، منصرفیدل •

ودره چی څه خوږه یاری دی خبـــره گورو به څه شیوه به لاس واخلی دلبـــره

۲۲۰- لاس پریدل : لاس بری موندل ، قدرت رسیدل ، وس رسیدل •

کهمی لاس وریاندی برشی هیرمی نه دی دیر سرونه به چت چت کړم په هیڅ چوب

۲۲۱- لاس په سر : بیزار ، ویزار ، منصرف •

د خوشال د اله څخونه لاس پســـر دی چی به ځای دگوتی څوارې په څلور کسی

۲۲۲- لاس ختل : بی وسه کیدل ، بی واکه کیدل ، بی قدرته کیدل چه په وسه
نه کیدل ، لاس نه رسیدل •

دگرلو وخت اختر شو تخم لــــرد ی خوارهغه چی له کره بی لاس ختلــــی

۲۲۳- لاس رسیدل : وس رسیدل ، قدرت لرل •

که دي لاس دنیکی نه رسی دزره کــــره راشه واوره الاعمال بالنیـــــات

پېژمان کی به خپل ځان ترهوجد ا نه کا د سزی که لاس رسیږی په قـــــدر

نه می لاس رسی په یــــــــار نه طاقت د انـــتظـــــار

په ځوانی که د ، چی کارله لاســه ووزي په پیری به دی وزه رسی لاسو نــــه

که می چیری لاس ووا ته د رورسیــږی په سپین مخ به دی غابن نخښی سیاه زدم

۲۲۴- لاس مزل : لاس منل ، لاس موږل ، سینه مږل ، گوتی موږل ، ارمان
او افسوس کـــــــــول •

تل به په ارمان مگس مزی لا ســـــــونه یادیی چی په زره نشاه لام و بی عمل شی •

دا چی اوس درته حاضر دیښه یی گوره په هجران به یی اخر لاسونه مـــــږی

چې د یار لاس په کښېد نه رسي خوشاله     وبزریووته څه لاسونه مږي

۲۲۵ــ لاس ورکول : د مرستې لاس ورغځول .

لوی دریابه توره شپه ده په کې ځي زما بېړیه

خدایه خضر راښکاره کړه چې لاس راکاندې ښکاره

۲۲۶ــ لاس وکښل : لاس وښکل ، ترې تېرېدل ، منصرفېدل .

په حیات صورت هرګوره ډېر ضرور شي     لاس وکښنه د دنیا له طمع ومال نه

۲۲۷ــ لاسونه تېل وهل :

چې څوک تر اب د ریس وګ اسره تېل وهي لاسونه     دا ژوندون د مړن نه دی ګڼد بېهوشي مردن حسي

۲۲۸ــ لباس : ظاهرداري ، په خوله تیر ایستنه .

نشي طمع له جدا ده چې مدح ګوي شوي     نشي جا سره لباس شته نه تیتـال

په ګرداري یار اغیار سره بیلیږي     تر یارانو ډېر لباس کا اغیاران

ډېر دي طغوند یغولولي په رنګ رنګ     څه بلا یي په لباس په تیتالونه

توان د طاعت راکړه چې اخلاص ورسره مل وي     نه هغه طاعت چې شي په رسم په لباس

که د تورو سره خاندم     جهان نه دي بې لباس

۲۲۹ــ لباس کول : ظاهرداري کول ، په خوله او خبرو غولول .

پایبندي یې لنډ دي چې څوک لباس کا     مخ یې په تور شي چې کوز او پاس کا

۲۳۰ــ لباس : په خولې ظاهرداري او تیر ایستنې .

اوس به هرچرته جهان په بلا ټک شو     که پخواله لباس وو په لاهور کې

ګوره کوم یو باد دي چې پدرست جهان راوالوت

زړه په چانسه په شي لباس شه خلك واړه

سر ترپایه اخلاص یم په یاري کـــــــې

په ناحق مې لباسي بولې زور مه کـــــره

---

لباس : نه یاري نه اشنایي واړه لباس دي     چې خبر شوم د ګړي له بربسته ( فراقنامه ۸مخ )

ACKU

مینه الستی شته ، لباسی شته ، نفسانی شته    مشك شته دی م حوزه لکه انسانی لکه بصل شته

۲۳۱ـ لو یه ورځ : قیامت ، د حساب ورځ ۰

په لویه ورځ به ستا ګریوان نیسی ګرم منګولی    څه ته ، څه د ی ویل دي ستاد خون څمرواد اریم

۲۳۲ ــ له خاطره وتل : لهزړه وتل ، لهفکره وتل ، له یاد ه وتل ۰

راشه کمی اوری داخبره د ه نادر ه    چی وواته له سترګوڅخه ووځی له خاطــره

۲۳۳ ــ لهزړه پا سل : هیرول ، ترك کول ، لهزړه ویستل ، له زړه ایستـــل۰

که عزار کاند ي پښتو ن به نه شـــــی    پهلکونو تر شوال او ترتــــــو را ل

۲۳٤ ــ له ز ړه و یستل : له زړه ایستل ، لهزړه باســل ۰

چی یك لخته د ی خوشال له زړه نه ویوست    د ربو عیزم پ ارد ي نه کیږي له خو نــــه

۲۳۵ ــ لهزوره پریوتل : لهه به ولیدل ، له قد رته پریوتل ، له زوره غورځیدل ۰

که په دا د ریا ب کی هرڅولانبوز ن پــــی    عاقبت به په کی پریوځی له ز و ره

۲۳٦ ــ له سترګو غړ یدل :

چی لهسترګو بی غریزم غــــم رنګــــــــه    جدای لکه قحط دغلــــــی وي

۲۳۷ ــ له ګیډي پیداکیدل : زیږیدل ، لهنسه پیداکیدل ۰

فرزندان چی می له ګیډي نه پیدا دي    یو ځ زماله ناخلفو نه ګبد شــــــه

۲۳۸ ــ مټ کول : کو ښښ کول ، هڅه کول ، زور لګول ، همت کول ۰

نورعالم به څه کړي د خپل ځان به خلاصی مټ کړه

لاندي پی خو شاله دا یو څه د بلا جال دي

مــــټ به علــم کــــړه چی علـــــم

اژد عـــــا دي هـــم عصـــــا

نن ګاند ه هرګوره پهازار د زړونو مټ کـــړ ي

هسی فکرنه کړي چی ازار د زړه عذاب و ي

دولتمن دي په هنر به علم مت کـــــا — که هرڅو شایسته مخ وي بیاپه پساله شی
په بهبود د خلق چار، هر څوك مت کـــا — په خیل زړه کی هرتنګ خړ بالانشین دي

۲۳۹ — مخ تورن : مخ توري .

که مخ تورن څو د روغجـــــــــن دي — رښتیني کله به مخ خیـــــــــرون دي

۲۴۰ — مخ توري : شرمیدلی ، رسوا شوی ، خړ شوی .

ماچی وکوت د دنیا خلك مــــــــخ توري — قابو چی دی واړه ګوري پتاو سیوري

۲۴۱ — مخ تورول : رسواکول ، رسوا کیدل ، ځان شرمول یاخړکول .

که یې عادت کړي په بدګویـــــــــی — مخ به دی تورکاتر پردیو خپلـــــــــو

۲۴۲ — مخ توریدل : رسواکیدل ، ځان شرمول یاخړ کول .

د سخن چینو مخو نه تو ر شـــــــــه — په مخ ښاکاتر شا عیبو نـــــــــه
مخ د هغه تور شه چی یې مینی نفساني دي — یوه مینه باقی ده نورکل میني فاني دي
چی یې ستا به حال بیغو ر شو ترابده یې مخ تو ر شو

د چانوش د چانیش یې ، د چا درد ، د چاد رمان یې
صبر د درمنو زړونو هرکله اشـــــر کـــــا — خدایه لا به کله د غماز سرې مخ تو ر شي

۲۴۳ — مخ جار باسل : مـــخ اړول .

له ګدایه نه لاڅه خو مخ جار باســـــــی — تل تشنه ناسته په وینو دغنی ده

۲۴۴ — مخ رونـــی ( ) : سوخرویه ، سرلوړی، مخ سـوري

داوره هیڅ د بېزما بېوهه — ګوره څوك ورشی به مخ ، مخ رونـــی

۲۴۵ — مخ سور : مخ رونـــی ، سرخرویه ، مخ سوري .

مخ می سور لره همیش په استغنا کـــــــی — په طمعه می زیږه مه کړه رخســــــاره

۲۴۶ — مري سترګی :ښتکه سترګی ، خرپسترګی ، هغه څوك چی په مرو او عاجزو سترګو

سفـــــــروي •

مورهنه گمــه چو زره یې مو ړوي        سترګی مري لري که زوړ که وو ړ وي

۲٤۷ — ملامت ورل : ملا تيا به غاړه اخستل ، ملامتيا منل ، خبري اخستـــــل •

دود دعاشق دادي چي په عشق کي ملامت و ري        حکمزه خوشال ملامت و رمـــــه وړم

۲٤۸ — منت اخستل : احسان اخستل ، تهديد او قهر ګالـــــــــل •

کله منت اخلي د يوي ګــــــيدي د پاره        هرچي منت ناکه دي که په کورلري جو ينـــه

۲٤۹ — منت ورل : احسان اخستل ، احسان ورل ، د بل جا قهر او خبري زغمل

په ناحق په منت کاندي وګـــــــــــري        ماد احسن منت دي د چـــــــا و ري

۲٥۰ — منډ نيول : لار نيول ، بل اخستل ، به بله تلل ، بل جا ته لاره تلل

کمي څان څي که څغان يري به يي نه زدم        مانيولي اوس دعشق د سورو منډ دي

۲٥۱ — مو ړ زړه :۱) یې غمه زړه ، په اطمينان ، به ډاډه زړه ۲) بې پروا او بې مينې ۳) بې علاقي شوي •

چي يې زړه ورڅخه موړ وي نه يې ګــــوري        د وز سترګيو ورته څو رنګه ارمان دي

---

بل مخ رونـــو (        ) چي د نوم به توګه راځي چيخبج يـــــي

به پای کي د د يښتو نګ برزور (        ) راځي نو د ځه جلا دي او بيلـــه معنی لري او سياسي

متن کي چي راغلي د هغه دصفت به توګه دی •

مخ توري : شرميدلی ، خوار شــــــوي •

سيوايي ، بدي ولور چي لوي بلوري        په داخر توکه کي غرق دي مخ توري ( سوات نامه ۲۱ مخ )

خپل دفتـــــــرو ته به ګـــــــو ري        شرمند ه څوي مخ توري ( فضل نامه ۱٤ مخ )

٢٥٢ آ — مینه سپیره کیدل : میراتیدل ، میراثیدل ، یوه‌کورنی ورکیدل .

که پایم‌په دنیا کی زه خوشال په زوروالی    د خپل‌برد یو‌بلا څومینی سپیري‌کړم

٢٥٣ — مینه ماتول : بریوه چاد بل چا سود (        ) کول .

د زړه مینه یی په کښلیو ماتـــه نـه کـړه    خوار خوشال به له دنیانه دارمان وړي

خدایه کله به دیدن داشناراکـــــړي    چی به زه پري‌ماتوم د زړگی مینـــــه

مادمعظم یه لیدو مینه ماته نه کـــړه    څه دقسا رنځ وه ، یه هفته‌کی څه وه څمشوه

٢٥٤ — نازوړل : نازاخستل ، نازورکول ، نازول .

زه او داد نرناکـــس سازي ناســـازي    که رښتیا وایم خپل ځان‌راباندي‌بندي

چی عمیش‌به په تسلیم راتـــه ولاړوو    د څخو مي څو ناسازي دي زغملـــــی

٢٥٥ — نرناحق : برناحقه ، برناحق ، بی‌موجبه .

ظلم جور ستاد يچی نرناحق یـــــه ماد ي    مه‌ړمه کړه له ازاره وویریـــږ ه

٢٥٦ — نوم کیدل : نوم ښکاره کیدل ، د یو کارپه کیدو سره‌نوم ښکاره کیدل او او مشهوریدل .

چی مجنون باندي‌مین‌شو نوم یی وشو    گیـه څه وه‌لیلی تو ره‌خانه سیا ه

---

ناسازي : سراوپښی‌کول ، ناکردي‌کول ، ظلم کول .

په بیان به قصیده به تمام نه شـــــی    که‌ناسازي‌د سپهر د شحا بکښم ( فراقنامه۱مخ )
چی جهان ناسازي کانـــــــدي    د رست جهان کالاندي باندي ( رر ٦٦مخ )
دا چی زرهسی ناسازي‌کا اغازیـــــی    خپل‌مقصود ، مطلب حاصل‌کا په ناسازي
( سوات نامه ٣٥ مخ )

نوم تـلل : نوم خوریدل ، مشهوریدل ، بدنامیدل .

که سخاداو کـــه توره که خـا مه ده    په دا دري‌توکه‌زماتللی نامـــه ده ( بازنامه )
نمونځ ماتیدل : لمونځ ماتیدل .

نمونځ دي مات به دا ژړا شــــــی    که ـه ور ، وي که نړا شی ( فضل‌نامه ٧٠مخ )

۲۵۷ ــ نیمګړي نیت : نه لو رینه ، نه رواداري ، بیرزوینه اورواداري نهلرنه ・
هـو را به خـداي بګلـوو مـوړګړي        باغوانه ستا نیمګړي نیت مې ژړو ینـه
او خوشـال وایـي :
بې قراره قراري د یاریږي کـــړه        د نیمګړي نیت وچاوته ویـــل کـړم

۲۵۸ ــ نیمخوله : یه تشه وینا ، بهیوه خبره ، په وړه خبره ، په تشه یادونـه ،
په نیمه خولهي کار خلاص کــړ ・
چې بهنیمه خوله یې کار کیږي د خلکــو        د خلاصي مې همیشه کانــدي جــال

۲۵۹ ــ وران : ۱) شوخ ۲) تکړه ۳) بې لاري ・
و نور چا وته وران مه وایــه خوشالــه        چې په قول عهد وران شو ، وران هغـه

۲۶۰ ــ ورځ بد یدل : ۱) ورځ ګرځیدل ۲) بهتکلیف اخته کیدل ، په غریبي اخته
کیدل ، غریبیدل ・
چې ورځ د يبد ه شي د ولت پــیرو کا        خپل زویه ، ورو نه لهتاویزار د ي

۲۶۱ ــ ورتیر : ورنږد ي ، ورنژد ي ، خوږ ، مقرب ، اعتباري ・
که هرڅو د يد خوشال معشوقي لويـــري        چې ورتیرترها چاد ه هغه تـــه يـــی

۲۶۲ ــ ورځ ګرزیدل : ورځ ګرځیدل ، بخت ګرځیدل ، بخت ګرزیدل ・
ورځ چې ګرځ شي خداي د ي امان کـــا        دا هیڅ فضل مګـر سبحـــان کـــا

۲۶۳ ــ ورغوي مزل : خوشالیدل ، هوسکول ، هوسیدل ・
په خپل زویه ورور يې زړه نه وي ترلـــی        د خپل پلار ومرګ ته هم مزه ورغـــوي

۲٦٤ ــ ورکړه : سخاوت ، سخي والي ، سخي توب ・
هم په ورکړه هم توره هم پـــهـــد ل        چې دا د ريتوګه داد ريوارهم

---

نینبي وعل : خبره ورسول ، خبرهورسول ، نوتکه وهل ، ضرر رســـول ・
د اناقصي چي هیش نینرو هي په کار کـــي        ګوره څه شي ، د لبنکرېه کارو بار کي ( سوات نامه ۵۹مخ )

٢٦٥ — وزسترگی : د مور سترگی مقابل ، هغه چې مړې سترګې ونه لري او په هیڅ نه مړېږي .

شعر کار د هر فاسق ، د فاجر نه دي ... نه د هر یوه وز سترگی د کنګال

٢٦٦ — وزي سترگی : په مال دولت ... سترگی نه مړيد نه ، د مړې سترګنی مقابل .

ورځ په ورځ د باغ غنچې دي چې غورېږي ... د بلبلو وزي سترگی پرې مړېږي

٢٦٧ — وهلی قلم : ازلی قلم ، تقدیر .

وهلی قلم نه بدلیږي ( متل )

چې یې وهلی قلم مطلق دي ... ایمان که حق دي په کافر ناحق دي

---

وزي سترگی :

مایه وزیو سترگو یر یاران خوړلی ... په خیر خیر دي مخ ته نه گورم د کسته ( فراقنامه ٨ مخ )

## ژبنی اصطلاحات

١- بدخواه : بدبین ، بدو ، مخالف ، دښمن .

نور څوك څه لره بدخواګنی نایو هم — چی په خپله د خپل خوی د ځان بدخواه یی
زه د زړه بدخواه وم ماپری وکړه برهارونه — خطرمی دی د یار غمزو لره لازه
د بدخواو بدخواهی خلاص نه شته — که اسمان ته الواته وکړی مرغه شی
د ساللی په ویل کار کړم — که د ځان نه یی بدخوا
ده په خپله دا فتنی زده — که بدخوا ورته ښیل ګ
که ما د ځان بدخواه ګڼی د الابله بلا ده — هیڅ پلار به په جهان بد زامن زویه یی اه اه
زه د یار په جفا هیڅ اعو نه کرم — راته غم د رقیبانو بدخواهی شوه

٢- بدزبانه : سپور خولی ، د بدی ژبی خاونده ، پوچ خولی .

بدګویه ، بدزبانه د پیروی لږه خبره — ځان تود ، بوی یی له ځانه لیوه غوندی بهیزی

٣- ځګرخون : غمګین ، خپه ، متاثر ، په یوه مشکل اخته

په خپل زړه کی ځګرخون کوه خوشاله — خپل برد یتمد زړه راز مه کړه اغازه
په ګلزار پسی بلبله د ل کباب ده — په ارمانی یی ځګرخون دی د مینا غم

٤- خود بین : ځان خوښی ، هغه چی یی له خپله ځانه بل څوك نه وینی .

فهم وکړه کهخود بین اوخود نما شی — زمانه به دی پایمال کاندی ترز یخ

٥- خود نمای ، خود نمایه :(١) ځان ښکاره کوونکی (٢) ځان ښود ونکی ، ریاکار

کله ګل غوندی نمای کله بلبل شی — څوك به نه وی لکه ته یی خودنمای

دا خود نمایه محبوبــه گـــــو ره　　　　چی کله گل شی کله بلبلـه شـــــی

٦ــ دلتـنگ :۱) تنگ زړي ۲) دزړه دخپه کيدو محـــاي .

ارتکی دزړه دلیل جـــمتی دي　　　　ددوزخ داور لایق دي دلتنگان

۷ــ دلتنگی ۱) دزړه تنګیدو ناروغی ۲) زړه تنګو نـــه .

افت که گـور ړي په تنګی کـــی دي　　　　نکبت ددهرپه دلتنگی کـی دي

۸ــ درازربان : یور، دبدي ژبی خاو نـــد .

یاوه گوي ، درازربان مه شه که گـــوري　　　　بیهوده خبري مه کړه پوچی بـوري

۹ــ درازدستی : لاس غځول ، تیري کول .

نو بهار شو بیا نرگس په باغ مستـی کـا　　　　چی سباحی په سنبل درازدستی کــا

۱۰ــ دلخــواه : خپل زړه ، دزړه په خوښه ، دزړه په انتخاب ، په خپـــل انتخاب .

که عالم وته دلخواه بادشاهی شـــوه　　　　عاشقی وماته لا عالی جاهـی شــوه

۱۱ــ دلسوز : زړه سواند ، زړه سواندي .

سرتریایه په لمبه بندي گـــذرکـــا　　　　دخوشال ویل په دا سبب دلبسوز دي

---

خاطرواکیـدل : زړه خوشالیدل ، خوښیدل

چی دسراي لملوریه راشـــــــــی　　　　په غـه بادمی خاطـــر واشـــی

(فراقنامه ٥٦مـخ)

ACKU

١٢ــ دلگير : مشوش، پريشان په فکر کې تللی، په حيرت کې تللی .

نه گناه ، نه بې خطا ، نيستي نور دي    نر ناحقه بې خوشال په زړه دلگير کړ
که ويل بې دغماز منلـــى نـــه دي    بيايې ولې له حيرانه زړه دلگير کړ

١٣ــ دورنگي : دوه مخي ، منافقت .

دزړه حال مې درمعلوم د يويوي خوك    ماخوشال څخه په ذات دورنگى نه شته
لکه خوله هسې پـــــه زړ    دورنگی يه کې نـــــــــه وي

١٤ــ دوه مويه : مې وريجې ، په زيره کې چې سپين پيدا شــــــي .

پښتنې جونه ترميزي له دوه مويــــه    اوس د جونو هوس مه کوه خوشــــاله

١٥ــ روسياه : مخ توري .

په دوستی سرې هم شي روســــياه    لکه لاس په شمارو د زرو پول توريــــزي

١٦ــ روي : مخ ، لحاظ، په خاطـــــر .

د بل کره چې ورشې په خپل روي بند يان پرانــزي
په هغان باندې چې راشي کل روي د پيغمبر شته

١٧ــ زباني ياري : د خولې ياري ، دخولې اشنايي .

زباني ياري ، ناني ياري جانى دده    په خورنگه د ياري صفت کـــــيزي

١٨ــ زرخـــريد : په پيـــه اخستل شوي ، په قيمت اخستل شوي .

چې يوسف د قبطيانو زرخريد شـــه    زمانه په خلکو هسې ازمينت کــــــا

---

داطاعت به بې گناه وي    روسياه به په قيامت به روسياه وي
( فضل نامه ٢٥ مخ )

۱۹ــ زړوواکیدل : زړه خلاصیدل ۰

ستا کوڅه لکه بهشت ده ، په بهشت کې مې زړه وا شه

۲۰ــ سندان خاطر : کلك زړه ، سخت خاطر ، سخت زړه ، سنګین زړه ۰

زما عشق په هغه شان دې لکه وه ، ستاخاطر هغه سندان دې لکه وه

۲۱ــ سنګدل : ۱) سخت زړی د سخت زړه خاوند ، په زړه کلك ، بې رحمه ۲) کلك زړه

ستاد زړه سختي مې سر تر پایه ولیدله ، سنګ په سینه وو رکړې ستا لهمسی سنګدله

۲۲ــ سنګ زړه : کلك زړه ، سخت زړه ، هغه زړه چې ترحم نه لري ۰

په بنایست کې یې تقصیر د صورت نه شته ، څه خودا عیب لري چې په زړه سنګ دي

په هرجا بانځیی زړه دې لکه ژاوله ، خو په ما باندې چې راشي زړه یې سنګ شي

کاشکې دعمل تله درنه په قیامت شي ، موم په رقیبانو په عاشق باندې زړه سنګ کړي

۲۳ــ سنګین زړه : سخت زړه ، کلك زړه ، بې رحمه ۰

دخوشال په حال به چري ترحم کړي ، مستی ته چې زړه سنګین لري

که هردم ورته ژړاکړم فائده نشته ، سنګین زړه به یې په چا نه شي نرو ب

۲٤ــ سوخته دل : په زړه سوي ، غمجن ، غمګین ۰

چې حاصل یې دخیل نندار نه وي ، به ګلزار یې سوخته دل نه وي محفوظ

۲۵ــ سیه دل : تورزړي ، په زړه تور ، دتور زړه خاوند ۰

سیه دل د محبت له سوزه سازمخبرنه شوه ، په کارد پتنګانو مچان نه دي پوهیدلی

---

سوګند خوړل : قسم خوړل ۰

او هیاشتي یم په سوات کې ګرځیدلی ، همه واره د یعظیم سوګند خوړلی ( سواتنامه ۱٦ مخ )

لاس کوتاه کول : لاس لنډول ۰

یو عالم دی ، پری سبا شي یا بیګاه شي ، کیمخو بې لمبند ګی لاس کوتاه شي ( سوات نامه ۲۳ ــ مخ

۲۶ــ گونه بدیدل : ۱) رنګ بدلیدل ، رنګ ژړیدل ۲) خپه کیدل ، بهٔ قهریدل ۰

د رقیب ګونه چې بده شوه لیده دې ‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌ چې وماوته به تیولی کې مو سیدل

۲۷ــ ګونه وځلی : ز بیښلی رنګ ، تښتیدلی رنګ ۰

تل ګونه وځلی هر زمان ساره اغونه ‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌ ماچې عاشقي کړه خو یه ما دا کیدل

۲۸ــ مړه دل : د مړاوي زړه خاوند ، د هغه چا زړه مړوي ۰

په خوشال باندي د ښکار هوا ژوندون شی ‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌ مړه دله که پهٔ تاباندې بیګار ده

۲۹ــ نان کوره : ډیر سخت ، ممسك هغه چې په خپلی یوي نوړي ډوډي پسې یې سترګو وو ځي ۰

د لوي غره کندې په تا باندې پرېوځي ‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌ چې د کورمه ډوډي وځي نان کوره

۳۰ــ نکته چین : باریك بینه ، دقیق ۰

دیاري په علم پوهه ‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌ سخندانه نکته چینه

۳۱ــ نیکخواه : خیر خواه د بدخواه مقابل ۰

چاته حال د زړه معلوم خبر نه یم ‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌ یو نیکخوا په جهان نه شته بې بدخواه

که د زیري به وګنبل یې وزته وایم ‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌ نصیحت د نیکخواهانو باندې اورشه

څوك نیکخواه په جهان نه چې یې ماته هدایت کړي

چې خبر په قباحت شوم بهٔ کي ډوب یك یکباره

---

یکدل : یو زړه ، به یو ه زړه ۰

چې خپل کورسره یکدل وي ‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌ هر مراد به یې حاصل وي ( فضل نامه ۷۱ مخ )

ACKU

## دوهمه برخه

## دخوشال د دیوان متلونه

۱ــ متل : د تیرې چارې څه ارمان ، له ورځه تللی اوبه بیرته نه راګرځي .

تیره چاره بد هیڅ په لاس رانه شي　　　　کمبخت یره ژړا سره د واړه لیمه کا

۲ــ متل : د دردمند و په حال بې درد ان څه خبر ، موړ د وږي په حال څه خبریږي

د پخوپه حال اومه کله پوهیږي　　　　د مقیم په حال خبر نه وي غریب

۳ــ متل : برخي تولی ازلی دي نه په زور نه په زاري دي ، چې لاړشي ترپلځه

در سره ده خپله برخه ، یا کارونه ازلی دي نه په زور نه په زاري دي .

له قسمته نه کم نه به څه زیات شي　　　　دادي واړه اندیښنی دي کم وزیاتي ( ۱ )

٤ــ متل : وروستي عقله چې وړومبي واي .

اي وروستی عقله د ریغه که پخواوي　　　　ما بمولی په خپل ځان کړه دومره شنده

د ریغه وړومبیه عمره وروستي وي　　　　د ریغه وروستیه عقله وړومبي وي

٥ ــ متل : بنه کال له پسرلي معلومیږي .

بیاله ورایه په خندا راغله نګار　　　　د بنه کال خو بې بنکاره وي تر بهاره

له بهاره نیك و بد دکال معلوم شي　　　　حال د زړونو پټاوه نه شی له غمخواره

---

( ۱ ) فراقنامې په ( ۳ ) مخ کي داسې راغلي :

مقدر به هیڅ رنګ ایدل نه شي　　　　هر سړي لره وریځ بخر مقسومه ( فراقنامه ۳ مخ )

و سړي تهڅوار هغه رسیږي　　　　چې د ده په پیشانی وي مرقومه ( رر ٤ مخ )

٦ــ متل : میزي ته چې خدای په غضب شي و ز ر و کا ، د میزي چې ورکه راشي نو وزر وکړي ( ۱ )

د میزي چې وزرونه وي څو نبره نه وي　　قباحت د ي تجاوز له خپلې چارې

مو ز میزي یو په محکمه گرځو　　د نس له غمه بله غو رځو

میزي لا په بلا یادوي　　چې و ز پوري شي و ز ر

٧ــ متل : بې اجله مرگ نه شته ٠

بې تقديره بې ونه مري　　نه په توره نه په تير

٨ــ متل ــ اوبه چې په سرواوړي څه یوه نیزه څه دوه نیزي ٠

یوه نیزه څه دوه ، څه تر دا زیاتی　　د غریق اوبه چې یا سرواوړي تر سره

٩ــ متل : هیڅوك نه وایې چې زما د غرکی خوند بد دی ، هرڅوك د خپلو شلومو صفت کوي ٠

خیلې خپلې شلومې ستايي　　چې شلومې پلوري گوجري

١٠ــ متل : ښه مور ښه زامن راوړي ٠

وگنده تېتو نه بد تېتو پیدا شي　　ښه اسونه د میدان راوړي ښه مور

١١ــ متل ــ خدای (ج) په یوه حال دی ٠

سړي هر ساعت هر وخت په بل بل حال شي　　همیشه په یوه حال وي کردگار

چې وایم په یوه حال دی هغه خدای دی　　چې حالونه پرېوړد روس د انسان دی

وی څوك د ی چې همیش په یوه حال دی　　وي یې په یوه حال ذو الجلال دی

---

( ۱ ) فراقنامه کې وایي :

میزي غوندي خو شاله　　الواته کاندي خبیث ( فراقنامه ۱۸ مخ )

ACKU

۱۲ — متل — تیر ساعت بیرته نه راگرځي ، تیر عمر بیرته نه راځي ·

تیر ساعت به دي دعمر بیارانه شـــــي　　ورځ و شپه‌که یه زارو وریسو ژاړې

نو ر به بیا به بیا رته رانه شي خوشاله　　گد شته عمر یه سر لګه اوبه ولاړ

بیا به تیر ساعت رانه شـــــــي　　اه ارمان هـــــي ، هـــي

۱۳ — متل — توکړي لاړې نه یو رتــه کــــیزي ·

که یې بیاله ځمکې اخلې سود یې کــوم دي　　له خولې‌یه مځکې پریوزيد چالاړي

۱٤ — متل — پههرچاخپل وطن کشمیر دي ، خپلوطنه ګله وطنـــــه ·

دخو شال دزړه خو بنی نه شي یې سرایه　　خپل‌وطن یې په هرچاباندي‌کشمیر کړ

۱٥ — متل — د هرچاحلق په خپلو لاړو لوند دي ·

دین د نیالره په‌کار خپله کــــرده ده　　لوند وي حلق د هرسړي‌یه خپلی لاړي

حلق په خپلو لاړو لو نــــــد دي　　دګــــدا هــــم د بادشـــــا

۱٦ — مــتل : او به به نري ورځ نبی ماتیزي ، اوبه یه کمزوري ورځ نبی ورځي

تل اوبه یه نري ځاي باندي ماتیـــــزي　　عقل وهوش‌یې نخستین راځخـــه یـــووړ

۱۷ — متل — چې‌غواړي پري واوړي ·

خو طلب ونیره مونده ل دي په دا دور　　بلکه لاترطلب بخره مومي بیـــــش

۱۸ — متل : بی‌زحمته راحت نه شته ، چې‌خړ نه شي غوړ به نه شـــــي ·

محنت به ځان قبول کانو راحت شــــــي　　چې‌عارف و مصیبت شي عافیت شـــي

چې‌محنت به ځان قبول کا راحت مومـــــي　　رنج وګنج سره دا دواړه دي ترلـــي

هر سړي‌چې محنت نه‌کا هغه کله راحت مومي　　راشه رنځ قبول کړه کټه‌ګنج غواړي‌بنمیند دي

دا دواړه توکه سرترلـــــــي دي　　خو ك چې محنت کا راحت مو مـــــي

مــتــل : نیمچه طبیب بلاي جــــان ···

د نیمګړو طبیبانو دارو اور دي　　زه خوشال په طلب سترېد حاذق یــم

ACKU

۱۹ـ متل : خوسی پمنډه نه نیول کیږي ۰

خوسی چاپه دونیولی د یخوشالـــه        بیخوره به غزاله و پسی گـــرځم

۲۰ ـ متل ـ د ناکس اشنایی دخره سارلی ده ، لهذا له لوځخه پت مه غواړه

د ناکس یاری په مثل داروده        چې د باد په مخکې دروي ترم ترم

اشنایی د ناکسانو ځان غـــم ده        ناکس له خپله ځانه خسورمه کړه

د ناکس د اشنایی تو به تو بــــه        د شو نـــتـــې له رنایــی تو به تو به

په پاکی کې به دې گډ یکا متیازې        په صفتکې بد ذات سره او به شی

۲۰ ـ متل ـ چې بل ته کوهی کینی خپله په کې گو زاریږي ۰

هم هغه په کې بریـــو ځـــی        چې کــنی چاته چاهو نـــــه

چاته چې چاه کنی په چاه کې پریوځـــی        بلا چې غواړي به بلا کیـــوزي

۲۱ ـ متل ـ هسی غر هسی کربوړي ، هسی چې هسی ی مـــی

لکه ځم هسی بر هسی ی بوټـــی        نه یی خوند مزه بد ل کانه بـــاران

۲۲ ـ متل ـ په شونبه یادیږي ، بد په بدو ، د نیکو نیک نوم پاتی کیږي د بدو بد

یو نوم دې پاتی کیږي نور به هیڅوک پاتی نه شی

په بدبدان یادیږي په نیکی یادوي نیکان

۲۳ ـ متل ـ غر په ارمونه اوړي ۰

اوس دیځم لکه لوي غر راته پاتـــــو        غر به نه اوړ د چا په ارمو نـــــه

۲۴ ـ متل ـ به تش لاس هیڅ نه کیږي ، تشه لاسه ته می د ښمن یــــــی ۰

له تشه اگه به سیلۍ ځه یو ســی ۰

په خالي کیسه به نه رسی ترکامـــــه        ځه حاصل که بوغلی شی په کیســـو

ACKU

۲۵— متل — د جوهرو په قدر جوهري پوهېږي ، د زرو په قدر زرګر پوهېږي .

عالم به چېرې د خوشال په ویل پوه شي        د ګوهر و قدر څه زده نبینه ګرو

۲۶— متل — د کور پیر چا ته نه معلومېږي .

د دانا قدر په خپل وطن کې قدر نه وي        د هاله قدر پېدا کړو چې غریب شه

۲۷— متل — یو خو خدای (ج) ښه دی ، یو سر او سل سودا

ښه بې دي ویلي چې زړه پوه ی یار دي یووي        ښه ده داخبره چې سر یوا و سود اسل څه

۲۸— متل — خلك پر لیوني خاندي او لیوني پر خلکو .

لیوني که مسخره دي و عالم ته        عالم هم وي لیوني ته مسخره

۲۹ متل — صراف سره او ناسره بېلوي . په سره او ناسره صراف پوهېږي .

ونور چا غرض نه وي نشته چې صراف وي        هم هغه زده په سره ناسره

۳۰ — متل

په ښوره مځکه کې کله شي ګلونه        د رته چاوي چې ګلونه پري کره (۱)

۳۱— متل — د انا ته خپله پوهه بلا ده ، چې نه پوهېږي هغه د وهرخې خوري .

د دانا بلا شوه خپله پوهه        چې هرګز بې خالي نه وي له اندوهه

۳۲— متل چې ربار نه وي دیدار نه وي ، هر کار په وسیله کېږي .

چې په منځ کې د دلال نه وي        وصال نه وي په مجنون باندي مینه که لیلی ده

هم خالق ته مخلوق ته        واړه کار په وسیله دي

---

(۱) په فراقنامه کې لیکلي :

په ښوره کې چې څوك کرکا        سود بې نه شته خپل ضرر کا (فراقنامه ۶۲ مخ)

ACKU

۳۲ــ متل ــ يار له کوڅې تير که رنګ يې هيرکه ، له سترګوناه ، څه ورپنــا
څه غـــــرېناه . چې له سترګو ووځي له زړه ووځي ، چې د سترګو
نه لرې شي د زړه نه هم لرې شي ، چې نه ديې وينم اخربه مې هيرشي .

راشه کميي اوريد اخبره د ه نـــــادره      چې وواته له سترګو څخه ووځي له خاطره
چې وواته له ســـــترګـــــــو      عاقبت له د له هيـــــــرشي

۳۳ــ متـــل ــ دوچوله زوره لامده سوځي ، وچ او لامده يې سره وسوځول (۱)
حق ناحق يې وچ وبله کښيـــــښول      ظالمې د اورنګ زيب پره د لو د ه
که زګيرو يه مي نور خلك په عذاب شــــول      تل د وچوله کبله سوځي تانـــــدي

۳٤ــ متل ــ بې مطلبــه څوك يوه ځاي ته نه ځي ، هرڅوك په خپل مطلب پسې ځي
چې اميد د ميزې ته وي ودانـــــوتـــــه      وڅخه لورې ته نه کانډي تلـــــه

۳٥ــ مــــتل ــ سر په بدنا يــې ومه خـــريږه .
نامرد مل د جامــــل مــــه شـــــه      سر په بد نايې د چاګل مــــه شــــه

۳٦ــ مـــــتل ــ ميرانه د ميرو کار دي ، نامرده د ميراني طمعه مه کـــــوه ،
ښه هم د ميرو بد هم د ميرو .
له ځوانمرده عومره غواړه چې د يې زيست شي      د نامرد خونه همه واړه ارلجه کــــړه

۳۷ــ متــل ــ دکورغل نه نيول کيږي ، د کورپيشـود ي غــــل مه شه .
پسې غوري واړه مـــــرد ارکــــــا      د خپل کور پيشو غل مــــه شــــه

۳۸ــ مـــتل ــ د ميړو ډوډۍ خوره د نامرد نه ، له ميړوڼي غواړه له نامرد ځان ساته .
که د کسبوروزګار نه ي ، نمرد شته      د نامرد ډوډۍ مه خوره ځان خفه کـــړه

---

(۱) د وچو له زور لامــد ه سوځـــي .
حق ناحق يې وچ وتاند و بله کښيښول      ظالمې د اورنګ زيب بره لو وه (فراقنامه ۱۰مخ)

٣٩ — متل — ښکاري رښتیانه وایي ۰

د شمال ښینه کا په جنوب دروغی    د ښکاري سړي په ژمنه باور مه کړه

٤٠ — متل — چې بد گرځو بد به پرزي ، خیل عمل د لاري مل ، چې بد غواړي
په بد به واوړي ۰

په ناحق به گرم ، مانه له هیچا نه کا    د بد انو غلیم واړه خپل افعال دي

٤١ — متل — له بد وسره چې او سی چې بد نه کړې بد به یوسی ، له چا سره چې
او سې په خوي به د هغو شی ۰

په نیکی به له بدانو نه خلاص نه شی    بو یه دا چې لګه د وي هسی ته شی

٤٢ — متل — له بد و ځخه یاغلی اوسه یا لري اوسه ۰

بد سړي که په ظاهره سړي لیده شی    په باطن کې نور څه نه دي مار لړم دي

٤٣ — متل — له هوښیاره سره غم ، غم نه دي ، ناپوه اشنایی غم دي ،
د ناپوه اشنایی نه اشنایی ۰

د ناپوه سره په جشن حاضر مه شه    د دانا سره قبول کړه که ماتم دي

په دانا می د ناپوه دیدن الم دي    د ناپوه د صحبت نتیجه غم دي

چې دوزخ دي په دنیا کی    ناپوه سره صحبت دي

د ناپوه یاري په مثل د یوك جام دي    که هرڅو یې ښه ساتم راڅخه تو یې شی

٤٤ — متل — په ښوکې بیره په بد و کی تاءمل ، د صبر منسه مراد بخیزي
د رته چاوي چې پریمه پرانیزه غوټیه    تاءمل د هر سړي گره کشای دي

٤٥ — متل — سختی سړي پخوي ، مسافري سړي کلکوي ۰

د اصلی فولاد ه ماله تیغ رغیزي    په وارو وارو ځنی لاړ شی او سپنځري

٤٥ — متل — ښه خوي به دي سلطان کی ، بد خوي بد یې په ځان پوري حیران کی ،
ښه خوي د سړي گانه ده ۰

ACKU

نور څوك څه لره بدخواه ګڼي ناپوهه　　چې په خپله د خپل خوی د ځان بدخواه یې
له بدخو یه سره هیڅ بدي ته مه ګوره　　غلیمان ورلره بس د بدخپل خو یونه
نیکان عزیز دي له خپله رویه　　بدان خوار زار دي له بده خویه

٤٦ — متل — اوښ نه په بده کیږي ، تول اوښ یې په بده کړ ، پیل یې لستوڼي کې پټوي .

دا یې سحر د بابل د مځکې راوړ　　چې د رست په کوټ کې وماند ه حاجې
یې سي غله راګډ شول په دا دور اخرین کې　　چې پیل له انبالي پټوي په خپل استین کې

٤٧ — متل — د منت له دارو مرګ ښه دي .

که بې په منت مومې واې مه خله　　که د چاپه باغ کې بوټې کیمیا دي

٤٨ — متل — بخت په تښتېده دي نه په منډه ، یا چې بخت تور شي د ښمن یې دیلار کور شي ، چې بخت مل وي څرخه شل شل وي .

بخت چې کوږ شي یوه تن نه دي راوړي　　چې د خداي باندې پیرزو دي د هرچا دي
چې د ې بخت د تالوسین دي توربه نه شي　　چې شیرین له ازله شور به نه شي
خپل برد یې به دي هیڅوك سیله ونه کا　　اې خوشاله که دې بخت نه شي په سیلي
طمع بلا ده اصیل بنده کا　　ښه ښه سري وي چې بخت مدد کا
چې بختیې ښه شي عمل هم ښه شي　　چې بختیې بد شي عمل هم بد شي
چې بخت تور شي عقل یې نور شي　　مخ یې په بد و په شرو شور شي
چې څوك له خپله شامته خوار شي　　خپل برد یوار په ځنې بیزار شي

---

د بخت په هکله فراقنامه کې وایې :

که د اوسینوکلاوي چې بخت یار شي　　خاوند خداي به یې اسانه لکه شیول کا ( فراقنامه ۱۲ مخ )

٤٩ — متل — د هرچا په خپل خپل کار نظر وي ، د هرچا په خپله چاره نظروي .

د دهقان فهم په یاله یاپه یوم وي    د سپاهی نظر په توره په تیرکش وي

٥٠ — متل — د زمري په کوم کې هم خیر شته .

که فلك يې د مزري په خوله کې ورکـــا    خدای دې نه کا چې عارف په کې غارت شــي

٥١ — مــتل

چې اد باري سري، سري هاله شــي    بې اد بې سري ، سري کله باله شـــي

چې اد بپورخخه وي صحبت خخه کــا    بې اد بله مجالسه وي ایستلـــي

٥٢ — متــل — په بد اولاد نه مور او پلار یاد یــږي .

ښه لا زو یه مور پلار په نیکي یـاد کا    نالائق د پلار ازار و مو ر پیغــو روي

اولاد چې ښه شي راحت د زړه کـــا    او لاد چې بد شي ښه مو ر پلار پره کا

او لاد چې ښه مو ر پلار ښــه کـــا    اولاد چې بد شي رنځو ر دي زړه کـــا

ناخلف زو یه اغز ي کړي خپل پلار تــه    د خلف زویه گلزار له عمره ســـم دي

ښه فرزند د پلار په خونه څراغ بل شــي    بد فرزند د پلار په خونه کې تور تـــم دي

ز و یه کوم ښه د ي نور د سترگـــو    ز و یه که بد شي ماران د جیب لــري

٥٣ — مــتل — نا بي د بل زیري ته ساز خپلې ته ناســـاز .

د نایـــی زیره ناســــــاز ه    د بل زیري و تـــــــه ســـاز

٥٤ — متــل — لمر په د وو گوتو نه پټیـــږي ، لمر په گو ته نه پټیـــږي .

نمبر په گوته پټاوه نه شي خو شالــــه    هیڅ منکر مه شه د خپلی عاشقـــي

٥٥ ــ متــل ــ خداي دي داسي غم نه راولي چي دغه بري هير شي .

خدايه حسی غم بل ماته پيدا مه کــړه چي په ده می ټا هرغان له دله هيرشي

٥٦ ــ متل ــ ښه دوست به بد ځاي کی به کاريږي، يار ميلی لره دي ، دوست تنگسی لره دي .

د راحت په وخت د ي يار تجربه نه شي چي محنت د رسره واخلی يار د ي د ي وا

٥٧ ــ متــل ــ يو يی گــټــی بل يی خــټــی .

يو يی توله په منت کابل يــی يو ســـی راشه گوره چا ولجه کړه چا ساتلـــی

٥٨ ــ مـــتل ــ هرچاته خپل مـــزيمرغلين ښکاري ، يا هرچاته خپل اولاد ښکلی ښکاري .

هر سړي د خپل وطن ثناصفـــت کـــا د هرچاترقمم کښلي خپل فرزنـــد وي

٥٨ــ مـــتل ــ تو ري لالا وهی نوري عبداله وهی ، يا سترو گــټل هو ساووخيل .

راشه گوره خلکه نصيب په څــــو خو ري توري نور ځوانان وهی منصب صد وخان خوري

٥٩ ــ متل ــ اوبه چي په ځاي ود ريږي نو خوساکيږي ، او به چي لا نه شي اخـــر خو سا کيږي :

چي اوبه په ځاي حصاري شي نو خسا شـــي صفايی هم به داده چــی بهـــيږي

٦٠ــ متل ــ چيرته چي زړه ځی هلته پښــی ځی .

کميه زړه شوي زه به اوس د يار څخه وم چاوي دا چي پښی هوري د روی چي زړه ځی

٦١ــ متــل ــ د خداي په کور د چا لاس نه رسيږي، چي خداي يی کوي هغه کيږي .

نه به زړ ــ ، نه به پښو د ه د خدايه کړوده دا غريب سري همه د خداي به کړه ځی

٦٢ — متل — تیزه تیزه ماتــوي .

دخیرې دلاره کارنشته نادا نـــــــه　　چې تبرونه یري ماتیزي هغه خند دي

٦٣ — متل — له پردي زو یه خپله لور ښه ده .

سپـي به ښه کـړم ترمـــــزري نــــه　　سپي د کور ، مزري دغــــــره دي

٦٤ — متـل — له بدو د ښو طمع مه کوه ، یا له بدو خیـر نه شته .

خر که بد دي بیا ورې ورې ي　　بد سرې بتر ترخــــــره دي

٦٥ — متـــــل — ویده داوده په حال نه خبریږي ، غافل دغافل له حاله نــه خــبریږي .

ته یې ویښ وینې پـــه ســــترگـــــو　　غافل ویښ نه دي اوده دي

دویده له حال اوده خبر نــــــه دي　　څوچې له خپله خوبه نه ویښ نه شي

٦٦ — متـل — عاشقان دمعشوقــو دي .

عا شقان د معشوقې دي　　نه د مور دي نه د پـــــــلار

٦٧ — متـل — تزي او به غواړي ، د تزي له او بو سره کار دي ، د تزي او به په کار دي ، روند له خدایه څه غواړي دوه سترگې بینـا .

تشنه خوله اوبو سره مقصــــــــود وي　　که اوبه یې د دریاب وي یا له جو یــــه

٦٨ — متـل — چې به لاس زر لرې ، بازار دغره په سر لري ، یا زر یه غره لارجوروي

که هر څو مشکل کارونه د رته پیښ شـــــي　　فکر مه کره چې اسان به یه زر نه شـــي

ماچې ولیده څو زر دي په دنیا کــــــي　　څو سرې دیې په مینه کافر نه شـي

یاد لیچوزور پەکار دي یـــا د زړو      خو رحقه شو چې په د واړو دي کمـزوري
یاد ي یرو زر بو یه یا بخته بویه یا تو ره      په سینه زیره څوك د چا داماد شـی

٦٩ــ متل د مرغلري خو یو ا ب د ي چي لاړ شی ٠

د ی ابه مرغلري هیڅ قیمــــــت وي      په زیبا سیرت به قدر د صورت و ي

۷۰ــ متــل ــ ورځ چې سه شي یه اوبوکې ی څراغ بلیږي ، ورځ چې برابره شی څراغ یې اوبوکې بلیږ ي ٠

چې می څراغ په اوبو بل وه      او س یه تیلو نه بلیـــــــــــږي

۷۱ــ متل ــ هرڅوك د بخت په مخه یو هیـــږي ٠

که ی مخ وي که بی شــــــــــــا و ي      پهخپل بخت هرڅوك پوهیـــږ ي

۷۲ــ متــل ــ نور هرڅه تیریږي یو خداي باتی د ي ، یاغم او خوشالی د واړه تیریږي ٠

زمــا زړه یه ډاړ مــــــــــن د ي      غم ښادي واړه تیــــــر یږ ي

۷۳ــ متل ــ د قصا ب زړه نه خو ز یـــــږي ٠

مرم دعشق لهلاسه ، نهد مستي په غمزه مرم      کار تیرهچاړهکالاسراوزړه خود قصا ب و ي

۷٤ــ مــــتل ــ مار چې غار له ورسی سمیږي ، مار چې سوړي‌ته ورشی سمیږ ي

مارکه هرڅوییـــچ وخم څــــــــــی      خیلی سوړي لر ه ســـم څـــــی

۷٥ــ متل ــ به تورتم کی لاره ورکـــیږ ي ٠

ی د لیله به څـــــــان ورك کـــــــا      مسافر چې په تور تـــم څـــی

۷٦ــ متــل ــ خپل عیب د ولیومنځ ، د بل عیب د کلی منځ ٠

و سړي‌ته د اخپل‌عیب وینتــــــــــه د ي      د بل عیب ورته لاکــته ترغر ه د ي

۷۷ــ متل ـــ چې شاگرد نه شې استاد به نه شې ، اول زده که بیا کوزده که ·

یو له بله زده کوي دجهان دود دي — لااوله چې شاگرد شې بیا استاد شـــې

۷۸ ــ متـــل ــ روغ صورت نیمه پاچاهي ده ، روغ صورت پاچاهي ده ،

روغ صورت لوي نعمت دي · صحت دولت دي ·

که لوي نعمت دي روغ صورت دي — چې بهتر تر سلطنـــــت دي

که لوي نعمت دي روغ صـورت دي — که لوي دولت دي د نیکو نیت دي

تندرستان دي شکـــــر کاندي — تندرستي یو لوي نعمت دي

۷۹متل: دولت دي د ځان دي عزت دي په جهان دي ·

د دنیا دولت که شـــــــــه دي — تر دولت نه ښه عـــــزت دي

۸۰ــ متل ــ چې بدگرځي بد به یرزي ، چې بدغواړي به بد وواوري ، چـــې

بد کوي بد به مومي ، چې بد کوي بد به وینـــــې ·

جهان ځاي د مکافات دي — بد به مومـــې چـــې بد کـــا

خوبي وبه خوري کله بـــــه اوري — چې بلا غواړي به بلا واوري

۸۱ ــ متل ــ د ښوغو ښو نه ښوروا وي ·

دا خبره وهرچاوته شـــــکاره ده — چې د ښوغوښو نه ښه کیږي ښوروا

۸۲ ــ متـــل ــ زور م به خر نمی رسد ده در پالانش ، میښې موهه کـــتی بې وهه ·

دا متل د زمانې دي څـــــه اوس نه دي — چې نامرد خر په پالان وهي نه خـر

۸۳ــ متل ــ عادت د سرې شیوري دي (( ترک عادت موجب مـــرض))

چې بد خوي په چاکې کښیني نو رعادت شي — عادت نه د روحي له شخصه په تعزیر

عادت چې بد لري ځان بې ژړلـــې دي — عادت چې بد لري سر بې خوړلې دي

عادت به پند نه ځي عادت په بند نه ځـــې — عادت له سره سره تړلـــــې دي

خیل دې پردې کړل پردې به خیل نه کړي　　چې ناقابل بې ځان به قابل نه کړي
غم دې په بنده خوشادې بدل نه کړي　　چې ناقابل بې ځان به قابل نه کړي

٨٤ ـ متل ـ پیشو به له اوړو جوړه کړم میو به بې څوك کوي .

داوړو پیشو سازکړې میو څوك کا　　هوښیارانو ته ښکاره دې دا مثال

٨٥ ـ متل ـ ړندې سترګې په رنجو نه ښایسته کیږي ، په ړندو سترګو رانجه بوري کول څه ګټه لري .

په ړندو سترګو رانجه زیبایي نه کا　　ناقابل دې خوس نه کا د اقبال
رانجه زیب نه کا په ړندو سترګو　　که نازکا ناز په بدرنګو نه ښایي

٨٦ ـ متل ـ د زمري او هاتي کور نه کیږي .

د هاتي مزري روغه که څوك غواړي　　هیڅ د دې خبرې نه شته احتمال

٨٧ ـ متل ـ که د ښمن دې ګنید روي تا بیايي د زمري کوه ، ووړ د ښمن داور بخرکی دي .

که د ښمن دې پریر زبون ته ځنې وارکړه　　به یوه بخرې و سوځي ښهرونه
د ښمن که سهل زحمت که لږ دي　　بې غم تړي مه او سه ای زماوروره

٨٨ ـ متل ـ د د ښمن په خوږه مه غولیږه او د ژبې په تودوه .

د د ښمن په تملق غلطي مه کړه　　د رستم غوندې هم مړه دي په مکرونه
د دوستانو په دوستی نه شته امید　　د د ښمن په تملق اعتمید

٨٩ ـ متل ـ بوره ورك دې کړه دوه کوره .

پور که د مړي دې تښته له بوره　　اور که لوګی دې تښته له اوره
د ښو خبره ده په هرچا فرضه　　د رته به وکړم د وه عرضه
د بدخواه ومنه ، د ښخو مه منه　　له مرګه مه تښته ، تښته له قرضه

٩٠ـ متل ـ په خپل شي کبر کول د نورو محتاجيزي ٠

محتاج د نورو نورونفري شي | سرچې خپله کتوه ماته کا

۹۱ـ متل ـ د لويو نور صفت کا ، يا خپل صفت په خپله سړي بايد ونه کا

چې لوي لوي وي نو ربې صفت ثنا کا | دريا ب چې لوي وي کله غوغا کا

۹۲ـ متل ـ د هوښيار بلا ورکه ده ، د هوښيار خوله په واك کې وي ٠

هوښيار به هيڅکله ويل باطل نه کا | هم هريو چاته د راز ويل نه کا

د خپل راز به يې ننه په زړه کې وي | د زړه بې حکمه بېخبره تل نه کا

هوښيار به هيچري بې ځايه کار نه کا | هم بې وخته د خولې گفتار نه کا

په خوله به لاس هيڅوك ازار نه کا | چې بد کردار دي هغه به يار نه کا

۹۳ـ متل ـ وزې د بوډي په قدر نه پوهيږي ، چې شي کميا ب شي نو قدر
پيدا کا ٠

څيز چې کميا ب شي قدر پيدا کا | زنگي په هند کې قيمت پيدا کا

حلوا چې موږ خوري عزت يې نه وي | بوډي په وزې لذت پيدا کا

۹٤ـ متل ـ چرگ چې بې وخته اذان کوي سريې د پريکولو دي ٠

چرگان بې وخته بانگو نه کاندي | بيا څه بلا دي باندي هړاندي

زه يې بې وخته له ياره بيل کړم | چاره يې سازه شه په ستونې باندي

۹٥ ـ متل ـ نيمگړي مينه ماته ليدنه ده ٠

چا دا خبره ښه ويلې ده | ماته ليدنه ده ناقصه مينه

۹٦ـ متل ـ پردي کټ تر نيمو شپو وي ، پردي ورکړه نيمه خواره دي، يا پردي
خواره يا پوردي يا بيغور ٠

د خپلې خونې نغن د خمچو | نه چې غنمينه د بل په کوچو

نه اورد خپل نغري د لوند پچو | نه اورد بل نغري د دړو وچو

٩٧ — متل — خپل وهلی نه دي پردي پوري وهلی نه ، د خپلو بد یه بد و نه حسابیږي

بدي د خپلو بل ترنسو بنه ده    که څوك پوهیږي په دا ویلو

٩٨ — متل — د توري وهلی به جوړ شي ، د خولي و یشتلی نه جوړیږي ، د توري تپ جوړیږي د بدي خبري تپ نه جوړیږي .

پرهار یې رغوینو د ژبې مه زده    د نامردي له کاره ننگ کړه

٩٩ — متل — غل ترکوره پوري مه شړه ، یا غل ترکوره مه څغلوه .

ځه بنه متل دي پښتو کړي    چې غل شاړه شي نه چې ترکوره

١٠٠ — متل — هرڅوك خپل بار وړي ، هرڅوك بیل بیل کارته پیدا دي

بار داوښانو په خرونو یښ نه شي    جام د مستانو په یښ نه شي

١٠١ — متل — عاشق سړی تل لوږن وي .

په عاشقانو ارام حرام دي    عاشق یې مه بوله چې به ارام وي

١٠٢ — متل — چرته لیدلی چیرته اوریدلی .

په دا خبره هرڅوك خبر دي    تراوریدلو لیدل بهتر دي

١٠٣ — متل — لهازاره بازار نه شته ، له ازاره چا بازار لیدلی ؟

ازار د هیچا داخستو نه دي    بنیري د خوږو ژبو لگیږي

١٠٤ — متل — د ښمن چې دوست کړي دوست به دي غلیم وي .

ضرب المثل دی د دانا یانو    د ښمن چې دوست کړم دوست دي غلیم شي

١٠٥ — متل — هرڅه چې خام وي پخیږي انسان چې یو ځل خام شي بیا نه پخیږي .

روپۍ چې قلبه شي یوه صراف ته    هغه روپۍ په هر چار ده شي

١٠٦ — متل

سیلاب په خوشاخکي غړپیدا کا    بقای نه وي په ډیر تلوار د رومي

ACKU

۱۰۷ — متل — د دوست به دې وژړوي د ښمن به دې وخندوي ، د دوست په منت خپه نه شې د دښمن په خندا و نه غولیږي •

بدخواه دې خوښ کا په ښو خبرو ‌ ‌ ‌ نیکخوا په بدو خپل ژړولی دي

۱۰۸ — متل — ونه په خپلو ولیو ولاړه ده •

سړي په خپلو سره بې غمه وي ‌ ‌ ‌ ونه په خپلو ولیو محکمه وي

۱۰۹ — متل — له بد سره چې نه کړې لګه خرته چې وابنه کړي •

عفو کرم د ې په هرچا عام نه وي ‌ ‌ ‌ په کس ناکس دې دا کار مدام نه وي

کس چې خطا وکا بانده عطا هو یه ‌ ‌ ‌ ناکس لا بد شي چې انتقام نه وي

۱۱۰ — متل — بد اولاد نه اولاد ، غابن چې رنځور شي نو دانبور شي •

فرزند که بد شي غابن دې رنځور شي ‌ ‌ ‌ غابن چې رنځور شي نو ر دانبور شي •

۱۱۱ — متل — چې کازه زیږي کازه لوییږي ، د خدای کازه دې خدای سم کړي •

هوښیار به واړه په دا یو میږي ‌ ‌ ‌ چې کازه زیږي کازه لوییږي

۱۱۲ — متل — د باز له حالي باز پاخې ، د تېپوس له حالي تېبوس •

له شیره شیر زیږي له ګرګه ګرګ زیږي ‌ ‌ ‌ له بازه باز وي امچرګه چرګ زیږي

۱۱۳ — متل — چې څه ونه کړې نو څه به ورېبې ، چې نوې جاګرلې څه بیې وې رېبلې

چې او ر بشې وکړي کله غنم و شي ‌ ‌ ‌ پته نه ده څه کړي هغه اخلي

هرچې وکري هغه به وریبي ‌ ‌ ‌ له خپله لاسه هره کرله شي

هغه چې وکري هغه به و ریبي ‌ ‌ ‌ له خپله لاسه هره کرله شي

هغه چې نه کري په وزیوګر ځي ‌ ‌ ‌ هغه چې وکري ریشې واخلي

۱۱۴ — متل — بخشش په لك حساب په کك ، بخشش په خروار حساب په مثقال •

ښه ده دا خبره ‌ ‌ ‌ که یې ینده کړې د مثقال

داد په خروارونو کړه ‌ ‌ ‌ حساب کړه په مثقال

۱۱۵– متل – خداي خپل کړه کړي ۰

څه سړي څه يې بنياد دي | په هرڅه کې خداي خپل کړه کا

۱۱۶– متل – راز ساتل ځان ساتل ، بل ته راز ويل سر خوړل.

د هوښيار ژبه پټه وي په زړه کې | راز بښوي اشنا وناشناته

۱۱۷– متل – دخوشالي او راحت په وخت کې دوستان ډير د سختۍ په وخت کې بيزار ۰

د راحت په وخت کې سل لاڅي دياري کا | د محنت ساعت چې راشي ويزاري کا

۱۱۸– متل په تقدير کې د تدبير لاس نه رسي ۰

څه سړي څه يې تدبير | هم هغه شي چې تقدير کا

که هزار ځله حکمت هنر تدبير کا | دخوشال په باب چې شوي نور به نه شي

۱۱۹– متل – چې خوله لري کراره ، نه به بوره شي نه به وراره ، خوله هم کلا ده هم بلا ۰

په ايمان به ځان په دواړه صرفه نه کا | چې د خپلې ژبې ولگيزي اور

هم الم به د يونه رسي وزړه ته | که د خپلې ژبې هرکله پاسبان يې

چې ډير ويل کا په ډيره ژبه | څو يې ژبه هومره يې تبه

د باغ بلبلو ته نظر کا | په خپله ژبه د قفس طالبه

فولادي توره وې که لويه تبه | ترا بده ده بدگويه ژبه

ډيري بلا د رڅخه واوري | ژبه که بندکړي د پند طالبه

هم دا ژبه ده چې غم ده | هم دا ژبه ده بنيادي

که څوك خپله ژبه بنه که | نو ري عيش نه شته پيدي

ژبه پټن کې څه عجائبه ده | صحت هم ژبه ده ژبه هم تبه ده

چې بښي خير کړ ښه بري خبر شوم | جنت هم ژبه ده دوزخ هم ژبه ده

که دين غواړې پرده پوشي کړه | فتني له خولې ياځي خوځامو شي کړه

۱۲۰ــ متل ــ ختکی له ختکی رنګ اخلی همسایه له همسایه پند اخلی ٠

ختکی له ختکی نــه رنګ اخلــــــــــی    عالمان شیخان یی لا دی نا پـــکا ر
ختکــی له ختکی نه خو ند اخلــــــــی    همسایه له ګاونډی نه پــند اخلـــی

۱۲۱ــ متــل ــ غم ښادی سره تړلی دی ، ژړا او خندا سره تړلی دی ، څو مــره چی و خاندی هومره به و ژا ړی ٠

غم ښادی سره تړلی دی له ځایـــــــــه    هغه هومره به وژاړی څو وو یـــا ړی

۱۲۲ــ متل ــ تیاره پسی رڼــا ده ، په شپــی پسی ســـــا ر شتــــه ٠

په هرشام پسی سحر شته نظر وکـــــړه    عاقبت چی څوك غمجن شی بیا به ښاد شی

۱۲۳ــ متــل ــ مرغان هغه کینی چی ښــی یی سره ورته وی ، هرڅوك په خپل اصل پسی ځـــــی ٠

داجهان پــتــی پتــی دی جنس د جنس سره څو ښی کــا
مار له ماره یوز له یوز خر س لــه خرسه

۱۲٤ــ عشق اومشك نه پټــیږی ، مینه ومشك نه پــټیږی ٠

هرڅو یی که پټــه په تټر کی وی ساتلــــی    څه بلا ده نه پټــیږی د زړه مینــــــه
د خو شال ویل و هرچاوته ښـــکاره دی    نه د مښکو بوی پټــیږی نه د هنګـــــی
نه د مښکو پټــید نه ، نه د عشق شــــــته    به ازل یی نه دی دا برد ییوښلــــــی
نمر په ګو ته پټاوه نه شـــی خو شالـــه    هیڅ منکر مه شه د خپلی عاشقــــــی
مینه بپټه د هیچا نه شــــــــــــی    خپل بو ی د مښکو په ځای چغــل دی
مینه په مثــل نافه د مښکـــــــــو ده    نافه د مښکو چېر تــــــه پټـــیږی

۱۲۵ــ متل ــ له زړه نه زړه ته لا ر وی ، د زړونو لاریـــــو ه ده ٠

د یار مهر ترما راغی زما مهر تــر یــــــاره    رښتیا د ه اخبره چی د زړه د ه لار د زړه

ACKU

۱۲۶ — متل — تلوار د شیطان کار دي، بیړه روغ کارونه ورانوي .

چې و دانی چارې ورانې په ساعت کا — چې مې ولیده په چار وکې تلوار دي

په هر کار کې چې د ر پېښ شي بیړه مه کړه — په تلوار سره ورانیږي جوړ کارونه

۱۲۷ — متل — اسره د خداي ښه ده ، د هیلی مخ تور دي .

څوك چې طمع له چا کا په حقیقت کی — که پادشاه د درست جهان شي لاګداي دي

طمع مرغونه په دام بندي کا — سړي خواریږي له خپله اشه

سړي به څه وايي ماهي مرغونه — په دام چې بند شي د طمع کار دي

له هیچا طمع مه کړه که هوښیار یې — چې طامع سړي تر هسر چا پوري خوار دي

۱۲۸ — متل — حرص بد دي ، د حریص برخه خواره ده .

د نیا لکه حلوا ده ښه شیرینه مزه ناکه — حریص لکه مچ دي باندي غورزي نمړیږي

۱۲۹ — متل — رانده ته شپه او ورځ یو شان ده ، په رانده شپه او ورځ یوه ده

په رو ند باندي هسې توره شپه ده — که عالم یې وینی نمر ختلی

۱۳۰ — متل — ناپوه دومره په بل نه کوي لکه په ځان ، بې عقل یې دونه په بل نه کوي لکه په ځان ، له ناپوهه بلا بوتړه، د هوښیارو بلا ورکه .

نادان په خپله پریوزي او رته — بلا په خپله راولي خپل کور ته

۱۳۱ — متل — خپل عمل د لاري مل .

که جنت لره څوك بیایي یاد وزخ ته — بله نه وینم په مینځ کې خپل اعمال

۱۳۲ — متل — چې اور بلوي لوګی ورسره دي ، لوګی نه پټیږي .

هر عمل چې سړي کا مضمر به نه شي — د رته چاوي چې لوګی مه کوه او ر بل کړه

## دخوشال د نورو اثارو متلونه

دخوشال په دیوان کی زیات متلونه راغلی دي او هغه هم په جلا جلا وار راوړل شوي دي، څکه چی د نورو اثارو هغه یی د کمیت له پلوه لږ دي خو کیفیت یی کم نه دي څکه چی دخوشال په فرهنګ کی د منظومو تولو اثارو شخه متلونه را اخلو ل دغه ارخ بنه پسی خوند ورکوي .

دخوشال په نورو اثارو ( فراقنامه ) سوات نامه ، طب نامه ) کی یوڅو متلونه په نظر راغلل چی دا دي د دیوي ضمیمی په ډول یی د ژبنیو اصطلاحاتو او د دیوان له متلونو سره وړاندي کیـــــــــزي .

د دیوان سره می د دي دیاره ګډ نه کړل چی لږ وو او بله دا چی د دیوان او پاتی اثارو د متلونو بیلتون هم راشی .

په دغه ډول یی لیوولاي شو :

الف فراقنامـــــــــه :

۱ــ متل ــ برخی ازلی دي ، نیمه زور نه په زاري دي ، هر چا ته خپل قسمت ور سیږي .

مقدر به په هیڅ رنګ مبدل نه شـــــی — هر سړي لره ورشی بخـــر مقسو مـــــــه
و سړي ته په وار وار هغـــــه رسیـــزي — چی د ده په پیشانی یی وي مرقو مـــــــه

۳ــ متـــل ــ هرڅوک به خپل اصل پسی ځی ، مرغان هغه سره الوځی چی بنی یی ورته وي .

هرڅو له وصل د خپل پســـی غــــواړي — چی ناري د جدایی وهـــی نـــــی نـــی

۴ــ متـــل ــ دغم شبه اوږده وي — دغم شپه ژر نه ســـــــبا کیـــــزي
دغم شبه لکه یو کال شـــــوه نه تیریزي — په خوشال باندي به کله کړي سحـــــر

٥ ــ متل ــ هرخوائیه خبل عمل پوړده ( پورده ) دی •

چې گندلی سره نه وي تـــــار بـــه تار　　دیوه بدی تربله نه رســـــیزي

٦ــ متــل ــ د وچو لـزوره بی لامده وسو لحــول •

حق ناحق بی وچ و تاندو بلهکښیښــول　　ظالمی داورنگ زیب پره دلو وه ( فراقنامه ١٠مخ )

٧ــ متل : چې بخت مل وي سرخه شل شل وي •

که داوسپنو کلاوي چې بخت یار شـــــی　　خاوند خدای بهی اسانه لکه شپول کا ( فراقنامه ١٢مخ )

٨ــ متل ــ چې پهعشق کي یار کا هغه به څوك یار کا •

دمعشوقی په بالنګ به هغـــــه خیـږي　　چې له سره نه بیرون کاد سر ویره ( فراقنامه ١٣مخ )

٩ــ متــل ــ او به چې له سره واوري څمیوه نیزه څه دوه نیزي •

څمیوه نیزه څه دوه څه تردي زیاتـــی　　دغریق اوبه چې باس واوري ترسره ( فراقنامه ١٣مخ )

١٠ ــ متــل ــ گل بی ازغـی نه وي •

که ته یار غواړي ورځه رقیبان گــــوره　　دگلابو گل چې خار ځوریږي ( فراقنامه ١٤مخ )

١١ــ متل ــ اور په زړه ونه ښه لگــیزي •

عشق تره وانه نوی لا کا زر نسکــــــور　　په پخه ونه لاښه لگـــیزي اور ( فراقنامه ١٥ مخ )

١٢ــ متل ــ له بدو ښو لمحه مه کوه ، ښه له ښو غــواړه •

چې بد نه کا نبـــدي خبیــــث　　نو ر به څه کاندي خبیــــــث

بوئی طمعه د ښومه کـــــــړه　　کلهښه کاندي خبیـث ( فراقنامه ١٧ مخ )

١٣ــ متل ــ میزي ته چې خدای په غضب شی وزر وکړي ، د میزي چې ورځ کمه شی وزر وکړي •

د میزي غوندې خو شــــــــاله　　الواته کانــــدي خبیث ( فراقنامه ١٨مخ )

١٤ــ متل ــ چې له سترگو ووځی ، چې د سترگو نه لري شو د زړه نه هم لري شی •

هرچې وواته لـــــــه ســــــترگـو　　عاقبت له د له هیـــر شی ( فراقنامه ٢٠ مخ )

۱۵- متل .

په ښوروکې چې خوله کړکا سود یې نه شته خپل ضرر کا ( فراقنامه ٦٢مخ )

۱٦- متل - یو چې اور شي بل دې اوبه شي .

چې یو بد وایي ته ښه یې خفه اور شه ته او به یې

چې اوبه شي به اور تلبې هور تم چې شي لمبې بلې ( فراقنامه ۷۰مخ )

ب- سوات نامه :

۱۷- متل - ښه خوي به دې سلطان کا ، بد خوي به دې ځان پوري حیران کا .

په غلط غلط خویونو مبتلا دې په بد خوي ، په بد خصلت د ځان بلا دې

( سوات نامه ۲۷مخ )

۱۸- متل -

چې په علم ، عمل ، جوړ دې پرهانو دې بې عمله علم وار شیطانې دې ( سوات نامه )

ج- فضل نامه :

۱۹- متل - چې بد وسره او سې که بد نه کا بد به یوسې ( فضل نامه ۱۷۵ مخ )

د - طب نامه :

۲۰- د طبیب دارو حاله خوره چې حاذق وي

د ناقص طبیب دارو لرې خطر

( طبنامه ٤٠مخ )

ACKU

## دخوشال دفرهنګ ماٴخذونه


الف - دخوشال منظوم اشعار :

۱- دخوشال کلیات ، ددوست محمد کامل په سریزه ، پېښور چاپ ۱۹۶۰ ع کال ۰

۲- فضل نامه ، دمحمد عبدالشکور په پیکش ، پېښور چاپ ، ۱۹۵۲ ع کال ۰

۳- دسوات نامه دپوهاند حبیبي په زیار کابل چاپ ، ۱۳۵۸ ش کال ۰

٤- باز نامه دزلمي هیوادمل په زیار دپښتو ټولنې چاپ ۱۳۶۲ کال ۰

٥- فراقنامه دزلمي هیوادمل په زیار دکابل چاپ ۰

٦- طب نامه دپوهاند رشتین په زیار دپښتو ټولنې چاپ ، ۱۳٤٥ هـ ش کال ۰

ب - قاموسونه :

۷- پښتو قاموس ، لومړی ټوك ، پښتو ټولنې چاپ ۱۳۳۰ هـ ش کال ۰

۸- پښتو قاموس ، دوهم ټوك ، پښتوټولنې چاپ ۱۳۳۳ هـ ش کال ۰

۹- محمد ګل نوري ، پښتواصطلاحات او محاوري ، پښتوټولنې چاپ ۱۳۲۰ هـ ش کال ۰

ج -

۱۰- څېړنوال دکتور عبدالحکیم هلالی ، پښتو قاموس لیکنه ، دپښتوټولنې چاپ ، ۱۳٥٤ هـ ش کال ۰

۱۱- پوهاند محمد رحیم الهام ، روش جدید در تحقیق دستور زبان دري ، کابل چاپ ، ۱۳٤۹ هـ ش کال ۰


PROPERTY OF ARIC Established 1989

PROPERTY OF ACKU 7246

ARIC
B
3.512
SAL
7246

ACKU

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

مطبعه دولتی